بسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

اللّٰھُمّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ
وَّ عَلٰی آلِہٖ بِقَدَرِ حُسنِ جَمالِہٖ

# ریدی رنگی اوبۂ



محمد اقبال شاکرؔ

ټول حقونه محفوظ دي

سرپانــــه: مُــراد آرټسټ مینګوره سوات
کمپوزنګ: محمد ریاض ساغرؔ بټ خېله
د چاپ کال : اول ځل، 2013ء
بیعــــه:
خورونکی: مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ
کــتـــاب : رېدی رنګې اوبهٔ

شاعـــــر: محمد اقبال شاکرؔ
0333 9262052
0932 - 413390
0932 - 414390
iqbalshakir123@yahoo.com

درکـــــونه:

- اکرام جیولرز ستاره مارکیټ بټ خېله
- اکرام جیولرز مېن بازار اسبنړ کوز دیر
- طاهر بُک سنټر اینډ پی سی او شېر خانه پلی
- یونیورستی بُک ایجنسی خیبر بازار پېښور
- د انور خان لالا دُکان پُښتو ځانګه پېښـــور پوهنتون
او
- دفتر مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ بټ خېله

# ټـــرون

زما د شپږو وارو خويـنـدو
په نـوم
چې ما ته هر وخت دُعاګانې کوي.

## زما د څلورو وارو رونړو

محمد اکـــرام
شاه بادشـاه مرحوم
علی حېدر او اصغـــر خان
په نـوم
چې زهٔ ئې په رورۍ فخـر کـوۀم.

## زما د دوستانو

اباسينؔ يوسفزی، بختِ روان عمر خېلؔ
اکرام اللّه خان، حاجی ناصر حيات
باچا سعيد سعّيد، ناصرؔ امين او اسلم سالکؔ
په نـوم
چې زما د هرې ښې بدې ملګری دی.

محمد اقبال شاکرؔ

ښاغلے اقبال شاکرؔ

## يو نظرياتي او روماني شاعر

ښاغلے اقبال شاکرؔ د خپلې خاورې د جغرافيائي وقوع، ددې سره د ترلیو سیاسی، قومی او تاریخی واقعاتو او د مختلفو سماجی او معاشی حالاتو په نتیجه کښې راپېښ شويو مسلمو ترجيحاتو په حقله پوخ علمی شعور، تنقیدی ذوق او منفرد فطری رجحان لری۔ دغه ټول توکی دۀ د خپلې فنی زيرکئ په زور په خپله شاعرئ کښې په داسې طريقه ځائے کړی دی چې ددۀ شاعرئ ته ئې مخصوص قومی او رومانی رنګ بخښلے دے۔ ددۀ په شاعرئ کښې هغه ټولې اشارې موجودې دی چې د يو زيرك شاعر نه ئې خپله خاوره، اولس او مخصوص حالات غوښتنې کوی۔ دغه غوښتنې دۀ صرف د نظريې تر حده نۀ دی په ګوته کړې بلکې دے خپلې نظريې ته د عملی رنګ ورکولو په لار کښې فعال کردار هُم ادا کوی۔

ددۀ په شعر کښې د حالاتو په ژرنده کښې د دل شويو هغه بې شماره بې وسو او بې اسرې انسانانو زخمونه ليدے شی چې په ظاهره خو د سرو ګُلابونو په شان غوړېدلی او خندېدلی ښکاری خو په داخل کښې د ځيګر په وينو لمبېدلی دی۔ کۀ څۀ هُم د زړۀ په وينو لمبېدلی دا ګُلابونه دۀ د وطن د پېغلو په وربلونو کښې ځائے کړی دی خو ددۀ د فن د اجتماعی پيغام په رڼا کښې زيرك نقاد ددۀ د فن هغه اړخونو ته متوجه کوی د کومو تر

www.pukhto.net

مخه چې دے د نظرياتی شاعرانو په ډله کښې شامليږی۔

د ښاغلی شاکرؔ په شاعری کښې د وطن د غرونو دنګې څوکې کله د قومی کردار د لوړوالی او کله د وطن د ښائسته پېغلو د دنګو غاړو علامتونه ګرځی۔ د وطن زړهٔ راښکونکی آبشارونه او سيندونه کله د لازوال حُسن او کله د محروم اولس د اوښکو نندارې پېش کوی۔ د وطن په ډاګونو او راغونو کښې ټوکېدلی سره ګُلونه کله د زخمونو او کله د سرو لوپټو رنګونه اخلی۔ د وطن د بُلبلانو اوازونه کله د دردېدلی اولس د زړهٔ فرياد او کله سندره ايزې نغمې پېش کوی۔

د دهٔ د فن په ورشو کښې د ګُل نازکې پاڼې کله د نازبينې محبوبې د شونډو تشبيهه ګرځی او کله د بُلبلانو په سوې نغمو ترمې ترمې لاړې شی۔ دې ټولو خبرو ته چې ګورو نو کهٔ يو اړخ ته ښاغلی شاکرؔ ټولې قومی غوښتنې ترسره کړې دی نو بل خوا ئې د رومانی شاعری ټولې تقاضې پوره کړې دی او ځکه زهٔ دا وايم چې دے د ځوان کول هغه نمائنده نظرياتی او رومانی شاعر دے چې مونږ وربانديې په حقه فخر کوے شُو۔

پروفيسر ډاکټر يار محمد مغمومؔ خټک
ايډورډز کالج پېښور
کلے ډاګ اسماعيل خېل چراټ
۲۲مارچ ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

# د پُښتو سرے

په شلمه پېړۍ کښې د پُښتو غزل په گړده پُښتونخوا کښې ډېر خور وور وکړلے شو۔ شاید چې په دې کښې د ابلاغی وسیلو لوئے لاس وی خو د پُښتونخوا زمکه عمومًا او د ملاکنډ سیمه خصوصًا د شاعرۍ د پاره زرخېزه ثابته شوه۔

ښاغلے اقبال شاکرؔ هُم د دغې غورزنګنې سیمې پېداوار دے۔ د دهٔ د شاعرۍ ژبه (لُغات، روزمره، محاوره وغېره)، تخیّل او فنی جوړښت په اکثرو ځایونو کښې د یو بل سره جُخت غاړه غړۍ دی۔ ځکه ئې شاکرؔ په خوند خوند وائی او اورېدونکی ئې په مینه مینه اوری، ستائی او یادوی۔

د حُجرې جمات، جرګو مرکو، مکتبونو، ګودرونو او بنهونو تر مېنځه لوئے شوے شاکرؔ د خپل ثقافت، روایاتو، قدرونو او دودونو دستورونو حلالی تبلیغی دے او د خپل سپېځلی تاریخ د بېرغ ساتندویه دے۔ د حُسن تصوّر ئې ملکوتی، نوری یا ناری نهٔ دے بلکې خاکی او سفلی دے۔ د مینې نظریه ئې د قربانۍ او عبادت د جذبو نه برجقه ده۔ حقیقت پسندی او فطرت خوښی ئې فکری او روحانی خاصه ده۔ د دهٔ په شاعرۍ کښې د علامتونو، استعارو، کنایو، تشبیهاتو، سهلِ ممتنع، تجاهل عارفانه او نورو داسې فنی خوبیانو بهارونه په نظر راځی۔

کهٔ د جدید غزل نه خوند اخستل غواړئ نو د شاکــــر د شوخ قلم نه وتې نغمې خامخا اولولئ۔ د ملاکنډ د ګُلدرو ننـدارو

www.pukhto.net

ورږمو ، جلال او جمال د شاکرؔ شاعرۍ ته ښکلا ، ځلا او ځانګړتيا بخښلې ده. د دې سيمې د ادبي غونچك نه د غه يوه غوټۍ به تاسو ته يو نۀ هېرېدونکے ياد او يوه نوې تنده تانده جذبه درکړي. د قلم د بې شمېره خوبيانو او خاصيتونو سره په عملي توګه د ژبې علم و ادب او اولسي خېر ښېګړې کار ته په رو ڼ تندي چمتو شاکرؔ په خپله هُم کار کوي او د ملګرو نه هُم کار اخلي.

اللّٰه دې ئې نور هُم زيرك او چابك کړي.

په درناوي

ابا سينؔ يوسفزے

چئېرمېن پښتو څانګه

اسلاميه کالج پو هنتون پېښور

نېټه: ۲۵ مارچ ۲۰۱۳ء

Pukhto.Net

# اقبال شاکرؔ

کهٔ د شخصیتونو د مطالعې په رڼا کښې د اقبال شاکرؔ صیب د شخصیت جاج واخستے شی نو زهٔ به دا اووایم چې شاکرؔ د ډېر ساده، واضحه او سوچه شخصیت خاوند دے او دغه سوچه والے، سادګی او روښتیا د هغهٔ د ذات نه واخله تر د هغهٔ د قلمه په نظر رائحی.

ځینې خلق د دومره ګُنجلِك شخصیت خاوندان وی چې یو نامتو سائېکاټ به یٔ هُم په اسانه ونهٔ لوستے شی. یعنې نهٔ یٔ څوك په ښهٔ زړهٔ پوهېږی او نهٔ په بد، ولې اقبال شاکرؔ ارادتاً هُم خپل اندرونی کیفیات نهٔ شی پټولے.

نهٔ پوهېږم چې دې ته زهٔ ددهٔ ښهٔ خویٔ اووېم او کهٔ بد. د مصلحت نومې تکی نه خو د سره نهٔ دے واقف. کهٔ په خُله هر څومره غلے پاتې شی ولې د حرکاتو او سکناتو یعنې (Body Language) نه یٔ دومره څهٔ راوځی چې سړے وائی چې ددې نه خو به دا ښهٔ وه چې ښکارهٔ یٔ د زړهٔ خبره کړے وے. ددې وجې نه اقبال شاکرؔ د دوستانو او خوا خُوږو یوه لویه حلقه لری، ولې ځینې بدخواهان او حاسدان یٔ هُم راپېدا کړی دی حالانکې شاکرؔ نېك فطرته دے، چرې هُم شر نهٔ غواړی، خېر غواړی، د ځان دپاره هُم او د جهان دپاره هُم، خو کهٔ مونږ خیال اوکړو نو دا وئیلے شُو چې خېر محدود دے او شر لامحدود، یا به دا اووایو چې صحیح محدود دی او غلط لا محدود، د یو سمّت، حدف او مقام معلوم دے او د بل نامعلوم، یعنې د نخښې ویشتلو دپاره مقام متعیّن دے خو د خطا کولو دپاره غېر متعیّن. دغه وجه ده چې مقام او حدف ته رسائی

www.pukhto.net

ډېر لوئے رياضت ، جدوجهد او جذبه غواړی او اقبال شاکرؔ صېب ددغه صلاحيتونو سره خپل منزل طرف ته په ډېر استقلال سره ګامونه اخلی او ډېره زر ده چې شاکرؔ ته د هغهٔ هغه متعيّن مقام مېلاؤ شی کوم چې ددهٔ حق دے۔

د شعروادب په حواله سره کهٔ خبره اوکړو نو زهٔ به دا اووايم چې د مطالعې خپل اهميّت دے ، د هغې نه څوك انکار نهٔ شی کولے ولې مشاهده د شعرو ادب دپاره د ملا د تير کار کوی۔ د نن د شعر غوښتنې د پرونی شعر نه بدلې دی۔ نن د شاعر او اديب نه څوك د غمِ دوران ، غمِ جانان او شبِ هجران قيصې اورېدل نهٔ غواړی بلکې انسانی ژوند ته د پېښو ستونځو او د هغې د هوارولو دپاره د قلم د کردار تقاضه کوی۔ په دغه اړه کهٔ مونږ د شاکرؔ شعر واخلو نو زما خيال دے چې ددهٔ شعر د جديدې شاعرۍ ټولې تقاضې پوره کوی۔

شاکرؔ د شعر د علم او فن د باريکو نه خبر دے۔ د ژبې تنګسيا نهٔ لری او په فنِ خطابت ورته پوره عبور حاصل دے۔ د معاشرې، تهذيبونو او روايتونو په لړ کښې د بدلون په حواله ساهو او مثبت سوچ لری او د قلم په ذريعه خپل رول لوبوی۔

زما دعا ده چې اللّٰه دې ئې سره زما د نورو دوستانو په قلم کښې نور خېر او برکت واچوی۔ آمين

بخت روان عمرخېلؔ

مرستيال ليکوال "مل "ملاکنډ

۲۳ مارچ ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

اقبال شاکرؔ د پښتو ژبې یو چاق ، بېدار ، ژوندے ګړندے او متحرك تخلیق کار دے۔ د تېرو شلو ، پنځویشتو کالو راهسې دغــه اواز د پښتو ادب د رنګك او بوئ په کاروان کښې اورېدے شي او اوس ئې د اسلوب په حواله هُم یو ځانګړے حېثیت اختیار کړے دے۔

د "کودرې"نه واخله تر "رېدی رنګې اوبهٔ"د هغهٔ دغه جانانه سفر اوس د دومره پړاوونو نه راتېر شوے دے چې په فِکر کښې ئې د ژورتیا او فن کښې ئې د ښکلا اظهار په پوره ډول کېږی۔

د شاکرؔ کلام د وخت تکړه سندر غاړو هُم وئیلے دے او ډېر ښهٔ ئې وئیلے دے ، خو د هغهٔ د کلام انفرادیت دا دے چې محض سندره ئې د سندرې لپاره نهٔ ده لیکلې ، کلام ئې هُم د فِکر انفرادیت لری هُم د خیال الوت او هُم غنائیت او موسیقیت۔ د انساني جذبو ټول رنګونه ئې مونږ په کلام کښې محسوسولے شو خو د دغه احساساتو د اظهار سره سره د هغهٔ انفرادیت کله کله ځان داسې اوښائی:

درد ونه ځانله ځانله دی درمان خو مو شریك دے
دا زمکه مو وېشلې ده اسمان خو مو شریك دے
راځئ چې رقیبانو نن د یو بل سترګې ښکل کړو
کهٔ هر څه مو جُدا دی نو جانان خو مو شریك دے

لنډه دا چې دا ځوان او ځوان فکره تخلیق کار د خپل عُمر په دې پړاؤ هُم خپل رنګك لری او هُم خوند او راتلونکے دور هُم د دغه رنګك یو هه ، متحرکه او ژوندو تخلیق کارو دے، انشاء اللّٰه

په درناوی

نورالامین یوسفزے
صدر قام قلم صوابی۔
۲ جنوری، ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

ښاغلے اقبال شاکرؔ د پُښتونخوا د نوی کُول نمائنده او جدید شاعر دے چې په غزل کښې ئې نوے رنګ لیدے او نوے آهنګ اورېدے شی۔ ددهٔ شاعری د مینې ، محبت ، صداقت ، حُسن ، امن ، رورولۍ ، پُښتنی سپېڅلو قدرونو او پُښتنو روایاتو امینه ده۔ د شاکرؔ په شاعرۍ کښې د خپلې ګُل ورینې ، زرینې ، حسینې او شېرینې سیمې ټول رنګونه داسې شوخ برېښی لکه د باران نه پس چې په اسمان د بوډۍ د ټال رنګونه څرګند او ځلند ښکاری۔

د شاکرؔ د شاعرۍ زورور او مینه ناك اواز په ډېرلږ وخت کښې د پُښتونخوا د غرو رغو ، پُولو او لمنو ځنې ووت او په کُلهمو پُښتنو داسې خورشو لکه د ناوې په سر سره بنارسۍ۔

د "کودری" نه پس د شاکرؔ په دې دوئیمې شعری مجموعې کښې زما د دې ټولو خبرو تصدیق کېدے شی۔ زهٔ ورته هرکلے وایم او هیله لرم چې ټول پُښتانهٔ به ئې په سترګو لکه بانهٔ وګرځوی او زړونو ذ هنونو باندې به ئې عُمر عُمر له نقش کړی۔

ډاکټر محمد زُبېر حسرتؔ

۲۱ مارچ ۲۰۱۳ء پېښور

www.pukhto.net

## د لورِ ملاکنډ شعری هُنر او دا "رېډی رنګيِ اوبۀ"

په تېره دغه يوه ادبی لسيزه کښې کۀ د سيمې تودوالی او الغاؤ تلغاؤ د نورو پُښتنو سيمو غونديِ د ملاکنډ په تاريخ کښې ډېر ژور بابونه رقم کړل، نو د ملاکنډ ادب زار په تاريخ کښې ئې هُم ورسره د پُښتون شعری تحريك ډېر ګړندی اوازونـــه د ډېرو ژونديو کرد ارونو له خوا په ګڼ اړخيز مانوی مضمونو کښې له تېرې دورې له روايته ډېر تېز واوړېدل شول۔ د پُښتونخوا د غزل معيار ، مقدار او مزاج په دغه دور کښې د کابل او سوات په ساندو او پيښور او د لغمان د ښائست په رنګونو کښې ځان ګډ کړو او د پُښتون جلال او جمال کيسه ئې د نړيوالو ادبونو تر دُرشله هُم ورسولې۔ د پُښتونخوا د امن او مينې تصور له ئې نوے رنګ ورکړو او پُښتون احساس ئې وېښ او د خاورې او ژبې په خوږو خبر کړو۔

د دواړو خواو سيمو ښکلاګانو کښې اُستاد رحمت شاه سائل صيب د خپل شعری هُنر په خوږو لړلے د ژوندروح پوکلے دے او ډاکټر خالق زيار غونديِ قام پرست پُښتون د پُښتنانۀ ژوند په دغه انګڼ کښې د "بـــېرې پــــه تال ځانګل" چې نـــزدې ورســـره ښاغلی اباسينؔ يوسفزی او اُستاد ډاکټر صاحب شاه صاؔبر د خودی او خودسری په نشه مست دغه سفر لا تُند او روان اوساتلو۔ د دوئ دغه دوام د ار او پرمختيائی فکری تحريك او شعری هُنر پسې د ملاکنډ له غرونو د ملګری امين تنهآ غزل په ژوند کښې د بغاوت او زمکی حقيقتونو د بيان او پُښتنی ژوند د کلی والو محبتونو تذکرې په ډېر کمال سره په نوی رنګ کښې د تېرې دورې د غـــزل د روايتی سرحدونو د ماتېدو سبب کـــــړې او د کلی د تاريخ او

www.pukhto.net

ښائست معيار يې لا نور نړيوال کړو چې د مضمـون د جديديت سرحدونه يې له تېر روايته ډېر لرې بوتلل۔

عثمان علی عُثمآن کلی وال ژوند تر ښاره تبليغ کړو او محمد ګُل منصوّر پُښتنه بې وسه مينه د مسافرۍ د شپو مشغولا اوګرځوله۔

هُم دغه لړۍ کښې ملګرى اقبال شاکّر نۀ خو د حالاتـو زولنې خپو ته پرېښودلې او نۀ يې د وختونو مجبورۍ او اوښکې ساندې کړې۔ د امن او مينې روان کار يې ژوند کړو ، پُښتنه حيا او ښائست يې جانان کړو ، د ملاکنډ غزل يې ګُل او غر کړو ، فِکر يې ځوان او ژواك يې ساده کړو ، د ببرو غرونو او چينو شور يې لکه د تُورو او بنګړو وشرنګوو، ځان يې د کلی ګودر او د کابل او پېښور مازيګر ته ورسوو۔

په ماتو کودرو ګودر ته له رسېدو روستو يې چې د ژوند ځومره نشې نشتې رنګونه او مئينوونکی او زړۀ وړونکی نشې نشې خُمارونه زړۀ ته کوز کړی او راخپل کړی، د مينې او ښکلا د نشې جام ته يې ترې "رېدی رنګې اوبۀ " جوړې کړې۔

اسرار اتلّ

۱۲ مارچ ۲۰۱۳ء پسرلے پېښور

www.pukhto.net

ما ته خپل ځان هُم معتبر ښکاره شي
چې مې یاران کړي د هُنر خبــــرې

یار اقبال شاکرؔ چې د شعر د فن هُنر مند او فطرتی شاعر دے شعــر ئې خوندور، اثرناك او مقصدی دے، په خپله ژبه ، په خپل ثقافت او په خپلو رواجونو مئین دے۔

ما ته معلومه ده چې د مودو راسې د پښتو ادب د پرمختګ دپاره زړهٔ سترې منډه وهی خو سترے نۀ ښکاری۔ ارادې ئې ځوانې دی او دا د شاکرؔ د هُنر او زیار وجه ده چې نن په ادبی دُنیا کښې یو ځلنده ستورے دے۔

"رېدی رنګې اوبۀ" د شاکرؔ دوئیمه شعری مجموعه ده چې ښۀ کلامونه پکښې موجود دی۔ لوستونکی او اورېدونکی به ترې خوند واخلی۔ "کودری" چې درې ځله چاپ دے ، ایوارډ یافته دے، د شاکرؔ اولنۍ مجموعه ده۔ څنګه چې "کودری"عوامو او خواصو خوښ کړے دے ، زما یقین دے چې "رېدی رنګې اوبۀ" به هُم د هر چا خوښ شي۔

زما او د شاکرؔ یارانه ډېره پخوانۍ ده خو د قادرؔی بابا خبره

ے مینه په عمـــــر زړېدلے نۀ شي
قادرؔی زوړ شو مینه ځوانه شوله

زمونږ په تنظیمی هلو ځلو کښې د شاکرؔ زیار او کردار د ستائینې وړ دے۔

په ډېره مینه

**باچا سعید سعیؔد**

مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ

20 مارچ 2013

www.pukhto.net

# د یارانو یار

شاکرؔ "د یارانو یار"دے۔ د "یارانو یار"د فیاض خان خوېشکی د البم نوم هُم دے خو زمونږ په یارانو کښې دا نوم په شاکرؔ صېب ډېر ټیك ټاك او فِټ راځی، ځکه چې د یارانو په محفل کښې شاکرؔ نۀ وی نو ماحول ډېر پیکۀ پیکۀ وی، بلکې ما او بختِ روان عمر خېل صېب خو يې ډېر کمے محسوسوو۔ ولې چې د شاکرؔ د غړولو یو خپل خوند او مزه ده۔

شاکرؔ د ادب په حواله ډېر لوئے نوم دے۔ په لږه موده کښې چې شاکرؔ کوم اوږد او لوئے سفر کړے ، دا د ډېرو کمو شاعرانو او ادیبانو په برخه کېږی۔ شاکرؔ اوس نۀ یوائې په ملاکنډ او پښتونخوا بلکې د پښتنو په ټوله نړۍ کښې یوه پېژندګلو لری۔

د شاکرؔسره زما د تعلق تقریبًا دَرویشت کالۀ اوشو۔ دا دَرویشت کالۀ د شعر او ادب په حواله دی۔ حالانکې زمونږه خاندانی تعلق ډېر پخوانے دے۔د خُدائے بخښلی باباجی حاجی محمد خان (د شاکرؔ صېب ترۀ) او زما د پلار حاجی عبد الامین تعلق یو فکری او یو نظریاتی تعلق وو، دواړه د ملاکنډ ایجنسۍ د عوامی خېل تنظیم فعال او تکړه غړی وو، خو د شاکرؔ سره زما ملګرتیا هله پخه شوه چې کله زۀ د شعر و ادب مېدان ته راووتم ۔ مونږ په یو تنظیم کښې چې اول "پام"وو او اوس "مرستیال لیکوال "مل"ملاکنډ دے خپلې ادبی او سماجی هلې ځلې کوو۔

شاکرؔ په شعر پوهه یو لوئے هُنر مند ، مېلمه دوست ، خبر لوځ او اخلاص مند ملګرے او د مرستیال لیکوال "مل"یو فعال کارکن دے۔

د شاکرؔ شعر د مینې محبت علامت دے ۔ مقصدی او د معاشرې عکاس هُم دے۔ د افاقی نظرئې علمبردار ، د امن ، ژوند ،

www.pukhto.net

انسانیت او ښکلا قائل دے۔ شاکرؔ ته که زۀ د غزل شاعر اووایم نو بده به نۀ وی۔ ځکه چې د شاکرؔ په غزل کښې چې کوم زور دے ، کومه روانی ده ، کومه برجستګی ده او کومه سادګی ده هغه د هغۀ په نورو اصنافو کښې نۀ ښکاری، ځکه چې شاکرؔ په نورو اصنافو کښې ډېره کمه طبع ازمائی کړې ده۔

اللّٰه دې اوکړی چې د شاکرؔ په قلم کښې نور هُم زور پېدا شی چې زمونږ د ا شملې نورې هُم جګې شی۔

په ډېر درناوی

ناصر امینؔ

مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

# د اقبال شاکرؔ شاعري زما په نظر کښې

اقبال شاکرؔ د پښتو د نوې شاعرۍ په حواله يو معتبر نوم دے۔ د ځانګړې لب و لهجې، نوی سټائل او انداز په سبب هغه ځان له يوه نوې لاره ويستې ده او په موجوده ادبی دنيا کښې ډېر کشران شاعران د شاکرؔ صيب په دغه ځانګړې لار د تلو هڅې کوی۔ د خپل شعری روايت سره د کلک تړون باوجود د نوو مزلونـــو او پړاوونو په لور روان ښکاری۔ د هغهٔ شعـــر د موسيقيت، روانۍ، سادګۍ او شعريت په وجه ډېر خوږ او د تاثير نه ډك دے ۔ د صحيح محاورې او روزمرې د استعمال په چل او هُنر پوهېږی۔ په دې وجه ئې شعر په خواصو او عوامو کښې يو شان مقبول دے۔

د ښاغلی اقبال شاکرؔ د شاعرۍ ځېلې په خپله ټولنه کښې ښخې دی۔ د اولسؔ خاورې او وطن کشالو ته د هغهٔ Approach د نورو نه جُدا ښـــکاری۔ هغهٔ صـــرف په مســـــــئلو ژړا نهٔ ده کړې بلکې را پېښو مسئلو او حالاتو ته ئې ډېر په ژور نظر کتلی دی۔ وطن او اولس ته ئې د را پېښو کشالو تجزيه کړې ده او د مسئلو د عواملو او وجوهاتو بيانولو سره سره ئې د خپل خيال او پوهې په رڼا کښې د دغې مسئلو حل هُم وړاندې کړے دے۔ د هغه په شاعرۍ کښې د هغه نکتهٔ نظر او نظريه ښه په ډاګه په نظر راځی۔

www.pukhto.net

د اقبال شاکر صیب د شاعرۍ موضوعات خوارۀ وارۀ دي. هغۀ ځان په یو خاص خول یا دائره کښې نۀ دے رابند کړے بله دا چې هغه خپله شاعري د یوې خاصې طبقې ترجمانۍ ته نۀ ده محدوده کړې بلکې د ټولو انسانانو په غم او خوشحالۍ کښې شریك دے.

ے چې انسان دے نو زما د زړګی سـر دے
غنم رنګے دے کۀ سپین دے او کۀ تور دے

انسانانو ته راپېښې مسئلې او عملونه او ددغه مسئلو او عملونو نه را ولاړ شوے ردِ عمل د خلقو د رویو ادلون بدلون او نفسیاتی لاندے باندے چې په کوم هُنر، سلیقه او ساده انداز اقبال شاکر صیب د شعر په ژبه بیانوی، دا هُم د هغۀ خاصه ده.

په ډېر درناوی
**نواز یوسفزے**
پیر بابا بونېر
۲۵ مارچ ۲۰۱۳ء

www.pukhto.net

وائی چې شاعری الهامی عطا ده. کله چې یو انسان د ذوالجلال د تخلیق شوو کائناتو په ښکلاګانو کښې ډوب شی نو لازمه ده چې دا انسان به هُم تخلیق کار شی.

محمد اقبال شاکرؔ هُم په دغه منتخب شوو انسانانو کښې یو انسان دے. ښکلې جُثه، با رُعبه شخصیت، د یو ښهٔ او ځانګړې فِکر مالك او په خپله ژبه او قام د ځان نه زیات مئین دے. زهٔ خو په شعر دومره نهٔ پوهېږم خو د شاکرؔ صېب شاعری چې ما څومره لوستې ده نو ډېره زیاته خوږه، پسته او د مقصدیت نه ډکه ده، خو بل خوا چې ما په لږه موده کښې د شاکرؔ صېب شخصیت څومره لوستے دے نو د هغهٔ شاعری لا د هغهٔ د شخصیت حدونو ته نهٔ ده رسېدلې. هغه د چا خبره چې هر شاعر په یو شعر پسې ګرځی خو لا تر اوسه هغه شعر یو شاعر هُم نهٔ دے موندلے. کېدے شی چې شاکرؔ صېب هُم د هغه شعر په لیکلو پسې کړمن وی.

خو اللّه دې وکړی چې شاکرؔ هغه شعر چرته هُم اونهٔ لیکی.
زهٔ د شاکرؔ صېب یو دوه شعرونه شاکرؔ صېب ته ډالۍ کووم:

ے چې خوئ مې د پتنګ وو په رڼا مئینېدم
نو زهٔ به ستا په سترګـــو خامخا مئینېدم

هُم تهٔ به مې جانان ئې هُم په تا به مئینېږم
کهٔ بیا چرته پېدا شومه او بیا مئینېدم

اسلم سالكؔ

مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ

www.pukhto.net

"رېدی رنګيٖ اوبۀ" د شاکرؔ صېب رڼه آئينه ده، په روڼ تندی ئې داسې زېب کا ، لکه چې په فلك نوَر يا سپوږمۍ څرګند وی۔ زما ادنیٰ تخيّل به د دوران د يو مهان دانشور د شخصيت احاطه څۀ اوکړی، خو دا زۀ د خپل اُستاذِ محترم محمد اقبال شاکرؔ له طرفه پيرزوئينه ګنم چې ما ته ئې د څۀ ليکلو موقع راکړه۔

اقبال شاکرؔ صېب د پښتنو او پښتو دپاره يو زيرك او ځانګړے فِکر لری او په پښتو ادب خو داسې مئين دے لکه چې دے قېښ وی او ادب ئې لېلا۔

په غزل کښې چې خپل سپېځلی فکرونه او توری اوپېلی نو داسې ځلقا کوی چې لکه د شهزادګۍ په سر چې تاج کا۔

شاکرؔ صېب زما د فکر د ځانګو د څوکو نه هُم بالا او بهتر شاعر دے۔ د ادب د سمندر يو داسې لامبوزن دے چې هره يوه غوټه اووهی نو هيرې او ملغلرې د پښتو ادب دپاره راوباسی۔ څومره شاعران اديبان حضرات چې دی ټول د قدر وړ دی۔ ادب د مورنۍ ژبې خدمت ګڼی خو اقبال شاکرؔ صېب په خپل ځان باندې دا کار بېخی فرض کړے دے۔

د اقبال شاکرؔ صېب شاعری ګڼ شمېر اړخونه او خوارۀ وارۀ رنګونه لری۔ په هر رنګ او هر اړخ ئې ځانله ځانله مجمـــوعه ليکلے کېدے شی۔

زۀ خو حېران ووم چې خبره د کوم ځائے نه شروع کړم۔ ځکه چې د شعر او بيا د شاکرؔ صېب د شعر په حقله به زما په شان نالوستے فقير څۀ اوليکی خو بس زما فخر او زما وياړ اقبال شاکرؔ۔

**فقير لعل ملنګ**

صدر مياں عمر بابا ادبی ټولنه

څوکنو پېښور

www.pukhto.net

# منــنــه

- د ټولو نه اول زۀ د خپل لوئے خُدائے شکر ګُزار يم چې ما له ئې دا توان او حوصله راکړه چې زۀ دا "ربړي رنګې اوبۀ" چاپ کړم۔

- زۀ د خپل کور د لويو وړو شاکر يم چې زما په ادبي او سماجي هلو ځلو کښې زما د لارې ديوال شوی نۀ دی بلکې ما له ئې حوصله راکړې ده۔ اګرچې زۀ دا اعتراف کووم چې ما د هغوئ وخت او نور وسائل په دې لارو کښې صرف کړی دی۔

- زۀ د ډاکټر يار محمد مغمومؔ ، نورالامين يوسفزی ډاکټر محمد زبير حسرتؔ، ډاکټر محمد اسرار اتلؔ، نواز يوسفزیؔ شاهينؔ بونېری او په ټېره ټېره د محترم پيرلعل ملنګ صيب شکريه ادا کووم چې په خپلو ليکونو ئې زما د کتاب خوند او رنګ سپوا کړو۔

- زۀ د ښاغلی محمد رياض ساؔغر، مُراد آرټسټ سوات او ګُل محمد (ګُل جي) آرټسټ د فن او هُنر قدر کووم د کومو رنګونه او نقشونه چې په دې کتاب کښې ښۀ ښکاره دی۔

Pukhto.Net

www.pukhto.net

- زۀ د **مل** د مشرانو او ملګرو حاجی فضل رحمٰن، امجد علی شاه خورشيد علی خان، ډاکټر صبيح الدين، ډاکټر سعيدالرحمٰن غفران احد ايډوکيټ، عزيز ايډوکيټ ، انجنئير محمد اسرار شوکت علی خان، امجد علی خان، ظفر خان، خالد خان عُثمان يوسفزیؔ او خالد اقبال هُم شکريه ادا کووم د چا ډاډ او حوصله چې زما د لارې مل دی.

- زۀ د **مل** د شاعرانو دوستانو حسن خان ناشادؔ، ګوهرعلی ګوهرؔ محمد رسول رسؔا، غنی غورزنګؔ ، حضرت خان راهی ساجد افغانؔ، بحرکرم بحرؔ، اختر يوسفزیؔ، امتياز شهزادؔ حبيب عابدؔ او زُبير عقابؔ ډېره مننه کووم چې زما د ادبی الوت وزرې دی.

- زۀ د ښاغلی محمد حنيف قيسؔ ، عُثمان اولسيارؔ او خپلو ټولو مينه والو احسان مند يم چې وخت په وخت ئې زۀ دې خبرې ته راپار کړے يم چې شعر وليکم او په ادبی غونډو کښې خپل شرکت يقينی کړم.

په ډېر درناوی

**محمد اقبال شاکرؔ**

www.pukhto.net

رڼا خُدائے پېدا کړې د تيارې د سترګو نور
تيارۀ خُدائے پېدا کړې د رڼا د زنې خال

زمونږه دا سجدې خو تصوّر ته هُم کـــيـــدې
کعبه خُدائے پېدا کړې د دنيا د زنې خال

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

# اعتــراف

د خپل عمل په آئینه کښې ځان ته ښنګـه ګورې
د کائناتو نه هم لوئے ارمان ته ښنګه ګورې

شاکرهٔ دا خو د دُنیا د کثافت ډکې دی
تهٔ به په دې سترګو ښائسته جانان ته ښنګه ګورې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

چې هم ئې سوز دلته پیدا کړو هم ئې ساز پیدا کړو
دا ئې ستا حسن زما مینې له جواز پیدا کړو

وه مدعا ئې د یو څاڅکی نه ګوهر جوړول
فطرت په دې غرض سیپۍ له کومے واز پیدا کړو

ددغې درد د خوږو خوند ئې په چا نۀ سود کېدو
په محبت کښې ئې د کوم ځائے نه غماز پیدا کړو

د ګل خندا د نور رڼا د یار وفا او جفا
د بې نیازۍ نه ئې د حسن سره ناز پیدا کړو

د محبت د لېونو نه ئې دنیا ډکه کړه
خپل لېونے ئې بیا په ټولو کښې ممتاز پیدا کړو

هسې خو نۀ ده ددې خامخا څه راز کېدے شي
په ټول مخلوق کښې ئې انسان په امتیاز پیدا کړو

Pukhto.Net

چې دے په ژبه په ناموس او په ننګ سر ورکوی
پښتون يۍ ځکه په عالم کښې سرفراز پېدا کړو

د محبت لوئی په دې دليل ثابته شوله
چې د محمود د زړۀ دپاره يۍ اياز پېدا کړو

شاکرّه تۀ د بختورو بختور سړے ئې
چې ستا همدم يۍ هم همدم او هم همراز پېدا کړو

★★★★★

www.pukhto.net

○

د ژوند په پېمانه چې شی حساب د سړی ژوند
په اصل کښې یارانو دے شباب د سړی ژوند

د هرڅۀ نه مضبوط لکه د غر د سړی ژواك وی
د هرڅۀ نه نازك لکه حباب د سړی ژوند

د هاغې ورځ دپاره څه وفا زړۀ کښې پکار ده
چې سوال د سړی مینه شی جواب د سړی ژوند

د مینې حقیقت د سړی روح ته ښکته نه کړی
خراب کړی زړۀ په څۀ خانه خراب د سړی ژوند

چې څوك پکښې خبره د خپل زړۀ کولے نۀ شی
اللّه دې نۀ کړی داسې په عذاب د سړی ژوند

Pukhto.Net

www.pukhto.net

کۀ لږ وی او کۀ ډېر وی خو مزه ترې سرے واخلی
د پرخې شان په غېږ کښې د ګُلاب د سړی ژوند

د ژوند د نظریې نه دا قانون دے اخذ شوے
فراخه کړی شاکرهٔ زړهٔ دریاب د سړی ژوند

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

○

لمحه لمحه د ژوند د تماشې نه ووته
ګرمی د هر مئين زړۀ د جذبې نه ووته

په وېښه مې په ژوند کښې چرته خوب ليدلے نۀ وو
زما د زړۀ خبره ستا د خُلې نه ووته

نيمګړې وه نيمګړې ده پوره به چرته نۀ شی
چې هاغه لېونۍ مې د قيصې نه ووته

پُښتونه خپله ژبه خپل تهذيب به ګټل غواړی
قيصه د مصلحت او ملازې نه ووته

تۀ ګوره د اسمان په تيارکو کښې به الوځی
مرغۍ کــــۀ د حالاتو د پنجرې نه ووته

www.pukhto.net

دا اوس چې د سر تېرو لېونو د جواب نۀ ده
زما په خيال لوئى د سرمايې نه ووته

د درد او د درمان رشته هُم لاړه د غرض شوه
شاکرهٓ دا دنيا د ښې توخې نه ووته

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

○

د مينې د خبرو طلبګار دې خدائے پېدا کړی
چې زړۀ ورته سم تش کړم داسې يار دې خدائے پېدا کړی

چې ستا سره راپاڅي او په شړو باندې سر شي
جنونه د مجنون غوندې اوزګار دې خدائے پېدا کړی

زما د محبت قيصه څۀ بل شانې قيصه ده
جانان خدائے پېدا کړے خو ريبار دې خدائے پېدا کړی

د زړۀ په مجازی مرض خو هر يو سړے پروت دے
د زړۀ د حقيقی مرض بيمار دې خدائے پېدا کړی

چې ستا دا فطرتی ناقلاری لږه قلار کړی
شاکرهٔ ستا د خُوږ زړګی قرار دې خدائے پېدا کړی

★★★★★

www.pukhto.net

○

ډکول غواړی په اخلاص د خپل ایمان پیمانې
ماتول غواړی د دُنیا د سُود او زیان پیمانې

مونږ په خزان کښې هُم د ګُل د پت پالنه کړې
زمونږه زړونه دی د مینې د امکان پیمانې

بېګا دې بیا کسه په خوب کښې مړ لیدلے یمه
نن دې په مورګو باندې اوړی د پیمان پیمانې

آبِ حیات د مینې اوښکې د وصال په شپه کښې
خُدائے دې ترې ډکې کړی د هر زړهٔ د ارمان پیمانې

کهٔ ډېر بې خوده یم شاکرّه خو په خود کښې شمه
چې د لېمو نه راته جوړې کړی جانان پیمانې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

د قسمونو د خوړلو نه قلاره نهٔ شوې
تهٔ د لوظونو ماتولو نه قلاره نهٔ شوې

په تورو څڼو کښې دې سپین تارونه هُم ښکاره شُو
خو د خوبونو تښتولو نه قلاره نهٔ شوې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

○

فکر به هر وخت لېونے ساتي
د زړۀ په زور به ځان ژوندے ساتي

سپرلیه نور درنه څۀ نۀ غواړمه
د ارمان ګُل به مي مُسکے ساتي

کۀ د منزل ارمان په زړۀ کښي لري
ځان به له هر چا ګرندے ساتي

د ښکلو ښار دے سینه ډال کړئ وه
تۀ به ترڅو پورې زړګے ساتي

ګُل دې د چا په ګرېوانۀ سود نۀ دے
څکه ددۀ سره ازغے ساتي

Pukhto.Net

لاړ شه څلور قونجه دُنیا اوګوره
خو ګورې ځان به پېښورې ساتې

شاګړ کۀ هر څنګه دے ستا شاګړ دے
په لېونو کښې به دې دے ساتې

★★★★★

www.pukhto.net

د ستړی ستړی ژوند ستړے ماښام به زمونږ څۀ وی
کۀ د غسې اوده یو نو انجام به زمونږ څۀ وی

دا یو چې زورور او بل نیازبین کوی نو ښۀ وی
ماښے به زمونږ څۀ وی او ناکام به زمونږ څۀ وی

مونږ ټول عمر غلیم ته دے لاس لاندې ژوند تېر کړے
احسان به زمونږ څۀ وی انتقام به زمونږ څۀ وی

چې طوق د غلامۍ مې وی په غاړه ماځیګره
د مینې اشاره له هغې بام به زمونږ څۀ وی

شاکرۀ چې په ژوند کښې مو رښتیا نۀ وی دروغ وی
پښتو به زمونږ څۀ وی او اسلام به زمــونږ څۀ وی

★★★★★

www.pukhto.net

زما په سترګو کښې په خپله قیصه نۀ پوهېده
څومره نادانه وه د ژوند په مانـه نۀ پوهېده

د بې وسۍ احساس د هر یو حس نه ساه وباسی
لکه د ګل په خپل ښائست او ورمه نۀ پوهېده

د لېونو سره د روغو کلی چرته کېږی
اوس په ځان پوهه شوم چې ولې هغه نۀ پوهېده

د خپل لمبه ښائست په تصور کښې ورکه
د پتنګانو په خبرو ډېوه نۀ پوهېده

د ټول محفل د تماشې خوند ئې په سترګو کښې وو
خو د خپل ځان په تماشه، تماشه نۀ پوهېده

www.pukhto.net

د ټول جهان د ښکلو رنګ ئې په لېمو کښې پروت وو
يو ستا د سترګو په خمار آئينه نۀ پوهېده

د لېونو پشان ئې سم په غرونو سر کړې کۀ نۀ
شاکرۀ نوره دې په مينه جذبه نۀ پوهېده

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

دې دومره قسمونو بهانو ته څۀ حاجت دے
چې رانغلې جو رانغلې قيصو ته څۀ حاجت دے

چې ستا د يو نظر د بدل قصد کولے نۀ شي
د داسې بې پښتو سره پښتو ته څۀ حاجت دے

ستا حسن زما شعر د يو بل په مخ کښې ښکارى
په دې کښې اشارو او کنايو ته څۀ حاجت دے

ددې خو کانى بوټى د خپل حال سندرې وائى
د درد په ورشوګانو کښې ټپو ته څۀ حاجت دے

زۀ ښه په ځان پوهيږم چې هغه په ما مئين دے
کۀ نۀ نو د هغۀ زما جرګو ته څۀ حاجت دے

www.pukhto.net

شپه ورځ د جانان سترګې پټول او غړول دي
د نور دې راختو او پرېوتو ته څۀ حاجت دے

دا غم دې د چا غم دے او د چا د خوشبې غم دے
شاکرۀ نو په دې کښې ژړېدو ته څۀ حاجت دے

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

خپل ځان د خپل ښائست د تماشې نه خبروه
ته ځوك ئې او ته څۀ ئې ځان ددې نه خبروه

په پټهو سترګو تګ د ارتقاء نه مخالف وی
بدلون د خپل تهذيب د زمانې نه خبروه

سپرليه خنګه راشې خنګه ګل شې خنګه لاړ شې
مونږ هم کله نا کله د قيصې نه خبروه

په درد باندې بې درده خلق کله پوهېدے شی
ژوندی خلق د ژوند د فلسفې نه خبروه

شاکرّه شاعری کول د هر څه نه اسان دی
خو ځان لږ د رديف او قافيې نه خبروه

★★★★★

www.pukhto.net

نۀ تا خبرې وکړې او نۀ ما خبرې وکړې
زمونږه په سر خلقو د دُنیا خبرې وکړې

د ټول کلی کندی به یو جمات یوه حجره وه
حېران به شی ورو ته کۀ دې دا خبرې وکړې

ګلونه بویوومه کۀ دا زړۀ مې لږ راټول شی
د ګُل په اننګو باندې بورا خبرې وکړې

پخوا به مونږ په لوبو کښې غل ښنګ معلومو
هغه سړے به غل وو چې به چا خبرې وکړې

څۀ بل شان خاموشی وه چې خان ټول کلی ته ووې
دا ژبه به ترې پرې کړمه کۀ چا خبرې وکړې

څه دومره هُم پوره ده په ټول کلی کښې خوره شوه
شاکرؔ په ټول محفل کښې په رښتیا خبرې وکړې

★★★★★

Pukhto.Net

○

چې ستا د شوخ نظر د زاوئې نه سرې وئې
د رنګ او د رڼا د سلسلې نه سرې وئې

باید چې د جهان فکر په زړهٔ کښې سرې وکړی
باید چې د خپل کور د دروازې نه سرې وئې

سبا دې توبه وباسی په صدق مئین نهٔ دے
چې روغ د بېلتانهٔ د یوې شپې نه سرې وئې

راځئ چې سره کښېنو او یو څو خبرې وکړو
چې څنګ به د حالاتو د ولقې نه سرې وئې

وسعت د کائنات ورته یوه نقطه ښکاره شی
چې کله د خپل ذات د دائرې نه سرې وئې

سند د مدرسې ته ئې شاګره حاجت نهٔ وی
هغه چې د جمات او د حجرې نه سرې وئې

★★★★★

www.pukhto.net

○

زما د مینې د ښائسته پېغوره چرته تښتې
لېونۍ تهٔ به د خپل خال د توره چرته تښتې

یوه لحظه به دې د حُسن شوخي پاتې نهٔ شی
لکه سپرغۍ د محبت د وړره چرته تښتې

زهٔ د نظر سوارهٔ په حُسن پسې نهٔ اوباسم
له زړهٔ مې اووتلې لارې نوره چرته تښتې

ښکاره خبره ده چې نور په ګوته نهٔ پتېږی
د خپل ښائست زما د زړهٔ د زوره چرته تښتې

راځه چې کېــنو د یو بل د زړهٔ نه شك اوباسو
زهٔ یمه ، تهٔ ئې محبت دے ګوره چرته تښتې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

خپل ځان دې بائيلو بې وفا لالې دې اونۀ ګټهو
پښتونه اوس به د پښتو د پوره چرته تښتې

د خپل زړګی په خاموشۍ کښې ئې اودۀ اودۀ کړې
شاکرۀ چرتــه د بنګړو د شوره چرته تښتې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

# فارن پالیسی

زمونږ د کلی د سپرلی په موسم وور وریږدو
داسې ګرمی وه د حالاتو چې سم وور وریږدو

کۀ مونږ د بل په غم په بل پورې خندلی نۀ وے
د خوشحالۍ په زړۀ به ولې د غم وور وریږدو

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

○

د خپلې برخې لړ غوندې اسمان پېدا کول دی
د ژوند د تېرولو څهٔ سامان پېدا کول دی

د درد او د وحشت په دې جابره توره شپه کښې
د ښکلی ښائسته رونړ سحر امکان پېدا کول دی

یارانو بې ارمانه زړونه مړهٔ وی د څهٔ نهٔ وی
یارانو لړ په زړونو کښې ارمان پېدا کول دی

سپرلے د خپل ښائست د انتها په بام ولاړ دے
ګلونه د سرو وینو په باران پېدا کول دی

ارمان مو د بنهو په څوکو اوښکـه اوښکـه کېږی
اوس دې ضدی وړوکی له جانان پېدا کول دی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

چې شمع رڼا وکړی پتنګان به خدائے پېدا کړی
د شمعې بلولو له ایمان پېدا کول دی

نور هر څۀ ډېر او تېر دی د دنیا په مورګو اوړی
خو ځان رانه ورك شوے دے خپل ځان پېدا کول دی

د وخت د زړۀ د درد خبره اوس اسانه نۀ ده
دې زخم دې ناسُور له څوك لقمان پېدا کول دی

زمونږه په تهذیب مئین راغلی لږ ئې ګوری
شاکرہؔ نمونې له یو پېزوان پېدا کول دی

★★★★★

www.pukhto.net

○

پښتانهٔ اوس درانهٔ خویونه لکه غر نهٔ کوی
ښهٔ زوره‌ور دی خو کارونه زوره‌ور نهٔ کوی

د نفرتونو بوټی لوئې لوئې ونې شولې
د محبت فصل ېلی وهلے سر نهٔ کوی

چې په دلیل شی نو خبرې د هر څهٔ نه ښې وی
چې بې دلیله شی نو کوم سړے به شر نهٔ کوی

خبره دې ته رسېدلې ده په دې کالهٔ کښې
چې یو رور میاشت اووینی بل رور پرې اختر نهٔ کوی

سترګې دی، وروځې دی، بانهٔ دی ورپسې په زړهٔ دی
په یو سړی پسې څوك دومره لوئے لښکر نهٔ کوی

دلته اوس داسې بوټي راوړئ چې په وور لوئيږي
دا غرونه سوی دی غوړاځکی او نښتر نۀ کوی

ژوند به هُم داسې لنډ او تنګګ وی په فراخه زمکه
چې احترام څوك د مهراب او د منبر نۀ کوی

چې ددې خاورې نه دا څه بر برکت الوتے
قصه خوانۍ کښې څوك قيصې د پېښور نۀ کوی

ستا په خبره کښې اخلاص دے ، محبت دے ، ژوند دے
شاکرهٓ ولې به په چا باندې اثر نۀ کوی

★★★★★

www.pukhto.net

○

ناپوهه خلق مې لالې نهٔ منی
ګلونه غواړی او سپرلې نهٔ منی

تولې دنیا یم لېونے منلے
خو لېونی مې لېونے نهٔ منی

د زوروړو زور ته ګوره کنه!
تهٔ به دے منې تا به دے نهٔ منی

د مینې خپله بادشاهی خوښه ده
مینه په څان کښې خپل پردے نهٔ منی

کهٔ زما منی نو یو کار دې وکړی
د زړهٔ خبره دې سړے نهٔ منی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

هره خبره پرې منلے شمه
مېنه مې نهٔ کول زړګے نهٔ مني

د فرعونی مزاج مالك ته ګوره
د ځان د پاسه يو سړے نهٔ مني

شاکرؔه ستا شعر به څه ومنی
دا هغه خلق دی چې خُدائے نهٔ مني

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

د غه به وي چې څوك ئې زيات او څوك ئې كم ګرځوي
نور هر سړے په زړهٔ كښې ستا د مينې غم ګرځوي

د خوشبوګانو د سپرلو د ښاپيرو كلی كښې
هر سړے تور بيرغ په لاس كښې د ماتم ګرځوي

ګوته په خله ورته هر رنګ د كائنات ودرېږی
چې مصور د يار په سرو شونډو قلم ګرځوي

پښتون بچے يم وخت د ګوتې نه نيولے يمه
د زړهٔ د ځړيكو په بازار كښې مې نن سم ګرځوي

د وخت حاكم حسن پرست دے يو اعلان ئې كړے
هر يو مزدور به په ګرېوان كښې زير شړشم ګرځوي

www.pukhto.net

ستا ددې شوخ تازه رانه نظر بلا واخلمه
محبت هم په نرګسی سترګو کښې نم ګرځوی

ژوند ته چې څوك د جدوجهد په نظر نۀ ګوری
دغه سړے به تل په خان پسې چیلم ګرځوی

چې د کوم بام په سر به ستا د نُور جلوه ښکاره شی
دغه ارمان مې لاس نیولے چم په چم ګرځوی

ستا د شاکرؔ د سخاوت اندازه دې نه لګی
رقیبان هم لکه یاران په ګل موسم ګرځوی

★★★★★

www.pukhto.net

○

دومره بد رنګې د حالاتو تقاضې ولې وې
د ټول جهان په زړهٔ کښې بلې سرې لمبې ولې وې

چې څهٔ چل نهٔ وی پُښتنې د کوره نهٔ راوځی
کهٔ څهٔ چل نهٔ وے نو ملالې به ټپې ولې وې

ماځیګر هُم په دې خبره باندې پوهه نهٔ وو
چې چارچاپېره د اسمان لمنې سرې ولې وې

چې مونږ د ژوند د فلسفې په مانه پوهـه نهٔ وو
وخت مو بل کړې په قبرونو دا ډیوې ولې وې

کهٔ مونږ په ځان کښې پراتهٔ نهٔ وے مونږه ځان پېژندے
لویو وړو به مو د نورو ترانې ولې وې

د مغربی تهذیب د کور د غولې مېنځ کښې اخر
په سر د جونو دومره ډوبې لوپټې ولې وې

★★★★★

www.pukhto.net

○

د محبت خوږې سندرې رانه نۀ هېرېږی
جانانه ستا د خُلې خبرې رانه نۀ هېرېږی

زمانې وشوې چې د کلی نه شړونکے یمه
خو هغه لارې او ګودرې رانه نۀ هېرېږی

زما نه هيڅ ځوك زيات په امن مئين نشته دے خو
د خُدائے په کور کښې مړې کوترې رانه نۀ هېرېږی

ستا د خالونو د ښکلا له برکته اشنا
تورې ممانڼې او ګورګورې رانه نۀ هېرېږی

شاکـــرۃ ډېر کۀ چا د ژوند نه لری کـــړے یم خـــو
د ژوند خـــبرې او اترې رانه نۀ هـــېـــرېـــږی

★★★★★

www.pukhto.net

○

زما د مينې زور زما په زړۀ کښې پاتې شو
څه شُکر دے چې وور زما په زړۀ کښې پاتې شو

د ژوند د خاموشۍ مرغۍ به اوس سندرې زده کړي
د چا د بنګړو شور زما په زړۀ کښې پاتې شو

په دې مې ورله ورکړو چې کوز سترګے راته نۀ وي
تصوير ئې ګښې نور زما په زړۀ کښې پاتې شو

راغلے وو چې دے به د خپل ځانه سره بيايم
د درد سره ټکور زما په زړۀ کښې پاتې شو

پُښتو به مې پُښتو وي او جانان به مې جانان وي
کۀ ټکے د پېغور زما په زړۀ کښې پاتې شو

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

سپرلے په دې ورشو د خپل ښائست سره رانغے
ارمان د يوې مور زما په زړۀ کښې پاتې شو

دې تول جهان ته سپين دے خو د خال بلا دې واخلم
غليم ته دغه تور زما په زړۀ کښې پاتې شو

دا نور خلق لا څۀ کوې خپل ځان مې دُشمن کېږى
شاكـرهٔ كۀ يار نور زما په زړۀ كښې پاتې شو

★★★★★

www.pukhto.net

○

چې هره ورځ پرې مینه د دُنیا سترګو ته ګوری
لالے په هغه سترګو نن زما سترګو ته ګوری

چې ژوند وی او د ژوند د تقاضو نه ډك محفل وی
سړے به پکښې خامخا د چا سترګو ته ګوری

هُم دا به د مغرورې محبوبې د زړهٔ درزا وی
یو ګُل چې غلے غلے د بورا سترګو ته ګوری

چې ورځ دې د یو خال د رڼا سترګو ته کړه تېره
یو ستورے به دې شپې له خامخا سترګو ته ګوری

ستا حسن ددې ټولو ښائستونو سرچشمه ده
سپرلے کهٔ ډېر ښائسته شی خو هُم ستا سترګو ته ګوری

خپل خوب به پکښې وینی خپل ارمان به پکښې وینی
چې هاغه لیونۍ مې کله بیا سترګو ته ګوری

قانون چې د فطرت شی نو عادت د محبت شی
شاکرؔه آئینه به د رڼا سترګو ته ګوری

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

○

په زړۀ کۀ ډېر زورونه وکړې خامخا به راځې
جانانه خېر دے کۀ نن لاړې خو سبا به راځې

سپرلیه ټولې ګلدرې ګلګونې سرې پرتې دی
تۀ چې په دې لارو راځې نو په خندا به راځې

تۀ ددې ښار د سوداګرو په چل نۀ پوهېږې
په خنداګانو پسې ځې خو په ژړا به راځې

زۀ ستا د مینې د احساس په اسره ژوند تېرووم
لکه خوشبو بــه را الوځې په هوا به راځې

لا به زما نصیب ښه کېږی لا به ستا یادېږم
لا به زما تپوس کوې لالیه لا به راځې

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

سپوږمۍ داڅه چې د کوم خال سپوري ته ژوند تېروم
زما تر ښنګه هم ددې خال په رڼا به راځې

شاکـــــره لاړ شه د کعبې نه طوافونه وکړه
خو که د مینې نه منکر ئې بې نوا به راځې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

بیا په جامونـــــــو پورې پانې د ربـدی نختـــی دی
په مېخانه کښې په یو بل پورې سپـــرلی نختـــی دی

د خپل ښائست نه چې په چا پورې لمبې پورې شی
داسې زمونږ په دې وطن پورې سپرلی نختی دی

ددې دنیا وزن د ماشی د وزر نه سپك دے
تهٔ ورته ګوره دا په څهٔ شی لېونی نختی دی

مونږ د ګلونو د وطن یو دا ثبوت دے کنه
چې په لمنو کښې مو څائے په څائے ازغی نختی دی

کهٔ څان دې وخوزوو تهول به په یو پر والوځی
په لوپټه پورې دې تهول وور ورکی نختی دی

د پښتنو کار به ښهٔ نهٔ شی کهٔ دا کار وی زمونږ
په نهٔ کارونو کښې مو ښهٔ ښهٔ شازلمی نختی دی

د خپل ښائست نه چې په چا پورې لمبې پـورې شی
شاکرهٔ د غسې په مـونږ پــورې سـپـــرلی نختی دی

★★★★★

www.pukhto.net

د پسرلی د ښائستونو قیصه وچې پاڼې
د محبت د زړهٔ د درد سرمایه وچې پاڼې

ما ورله ګُل د خپل زړګی په وینو تر لېږلے
ولې جانان ترې نه اخستې مانه وچې پاڼې

د مور په اوښکو مې لمدې وې څکه نهٔ بلېدې
زما نه اوس هُم نهٔ هېرېږی هغه وچې پاڼې

د یو سړی د بې وسۍ تصویر ما هُم لیدلے
د یو چینار نه رېژېدې یوه شپه وچې پاڼې

د محبت ډکه خندا او ستا پارڅنې شونډې
لکه چې وی په یو تازه ګُل کښې دوه وچې پاڼې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

هر يو کتاب مې د الفت په صداقت ګواه دے
په هر کتاب کښې مې پرتې دی ښائسته وچې پاڼې

هاغه هُم وخت وو چې دلۍ دلۍ ګُلونه به وو
اوس د ماليار نه تېرے نۀ دی توبه وچې پاڼې

د وچو پاڼو پنډ په سر مخې له داسې راغله
لکه چې وور واخلی د هاړ په غرمه وچې پاڼې

زمونږ د خپو د لاندې سا قدرې شاکرهٓ ناخلی
لکه چې پېژنی د وصل لمحه وچې پاڼې

★★★★★

www.pukhto.net

زړګے راتول کړمه د ژوند مړاوی کاتۀ اسره کړم
کۀ سینه ډال کړمه د یار تېرۀ بانۀ اسره کړم

ما په ټول عمر کښې دا یو د غرض کار کړے دے
بې ستا د مینې د اسرې نه به زۀ څۀ اسره کړم

کۀ تا زما سره په ژوند کښې یوه لار کړې وی
تۀ راته ووایه اشنا چې زۀ هغۀ اسره کړم

زۀ د خپل ذهن په اسره تا هېرول غواړمه
خو بیا راپاسم را روان شم دا خپل زړۀ اسره کړم

دواړه زما د محبت د لېونتوب نخښې دی
د خپلو سترګو نم کۀ ستا د شونډو سرۀ اسره کړم

شاکرۀ ژوند چې په ځائے اودرېږی او نۀ تېرېږی
نو زۀ پښتو او پښتونخوا او پښتانه اســره کړم

★★★★★

www.pukhto.net

# ماتم

کۀ خوشحالي راوړي په غم کښې چرته دلته راشه
په عاشوره کښې په ماتم کښې چرته دلته راشه

سپرلیه ته خو چې راځې نو بې موسمه راځې
د زړۀ د څيکو په موسم کښې چرته دلته راشه

Pukhto.Net
پښتو

○

د یار په شونډو باندې خوند نهٔ کوی تل خاموشی
کله نا کله مې زړهٔ غواړی ماتول خاموشی

د خپل زوال په حقیقت یٔ سترګې پټې کړلې
د ژوند په روح باندې خوره ده د اجل خاموشی

کهٔ څهٔ وئیلے نهٔ شې سا خو لږ په زوره اخله
چرته په ما باندې دې ونهٔ کړی څهٔ چل خاموشی

بیا به په چغو په چغار هډو څهٔ کار نهٔ لری
کهٔ د بلبل د زړهٔ نه ووته د ګل خاموشی

مونږ د خبرو د کولو په چل نهٔ پوهېدو
زمونږ په سترګو کښې پرته وه د یو بل خاموشی

www.pukhto.net

د هاغه يو سړی د ژوند هيبت پرې څومره خور وو
زما نه اوس هم نۀ هېرېږی د مقتل خاموشی

د خپل غرور په تار ګنډلې شونډې مه ګرځوه
د روح اعصاب مې چرته هسې نۀ کړی شل خاموشی

سندرې هم راځی ټپې غزلې هم وايمه
خو ماتول غواړی ملګرو بس يو ځل خاموشی

چې ستا د زلفو تصوّر د شاکرؔ زړۀ واخستو
شوه د مرغو په شور کښې ورکه د ځنګل خاموشی

★★★★★

www.pukhto.net

○

د یرغلګرو زړونه کاڼي دي پرې نۀ خوږیږي
زمونږ د کلي ماشومان چغې کوکارې وهي

زۀ لوئے سړے یم ، پس د مرګه پته ولګیده
زما په قبر مخ او سر هغه لوئے چارې وهي

ستا د ښکلا د دروغژنې انا وور مړ کوي
د ګل د رګ رګ نه سپرلیه وینې دارې وهي

ستا د یوې جنډې نه څو جوړې جامې جوړیږي
لغړ سُغړ وارۀ ددې لاندې کوکارې وهي

شاکرّہ تۀ خو بختور ئې ستا په زړۀ کښې پروت دے
په ښائستونو پسې خلق لوئې لارې وهي

★★★★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

○

حسن او وفا د خپل صنم دپاره غواړمه
مینه او رڼا د ټول عالم دپاره غواړمه

شرمې په دې خپلو ورشوګانو باندې سود نهٔ دے
خېر دې د هر ناز او هر قدم دپاره غواړمه

تا چې را له کوم یو غم په برخه کښې لیکلے دے
ناست یمه دعا د هغې غم دپاره غواړمه

دم د محبت راباندې داسې چا پوکلے دے
اوس چې څهٔ هم غواړم د همدم دپاره غواړمه

زهٔ حسن پرست د نور پرست پښانتې نهٔ یمه
ژوند د سرو لمبو نه د شبنم دپاره غواړمه

غواړمه چې دے د چا نه یره ترهه ونهٔ کړی
تُوره د شاکــر ددې قلــم دپاره غــواړمه

★★★★★

www.pukhto.net

○

خبر شه د ترخو حقیقتونو د دنیا نه
راوځه د خوږو خوبونو د دنیا نه

هر ګل د ژوند په وینو باندې سرۀ جوړه اغوستې
ډولۍ ده جوړه کړې ارمانونو د دنیا نه

چې ټول روایتونه مې په خپل زړۀ کښې خوندی کړے
او لرې چرته لاړے د رسمونو د دنیا نه

بېګا مې خوب لیدلے چې زمونږه دې دنیا ته
رالوتې لولکۍ دی د رنګونو د دنیا نه

زما د یار د حسن په اسمان باندې نظر دے
رڼا ځان له راوړمه د خالونو د دُنیا نه

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

ساقي لېونے کېږم کهٔ پهٔ بل طرف دې بوتلم
پهٔ کوم طرف مې بيائې د فکرونو د دنيا نه

شاکرهٔ خپل عمل د رڼا ګانو سرچشمه وی
تيرې به وباسل وی د نېتونو د دنيا نه

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

سُود به په څهٔ کښېږي وی مُدام په دې سودا کښې ګرځی
سوداګر خلق چې هر چرته په دنیا کښې ګرځی

چې زړهٔ يې تور وی په رڼا کښې په تیاره کښې ګرځی
چې زړهٔ يې سپین وی په تیاره کښې په رڼا کښې ګرځی

داسې وزرې درنه ماتې غواړم نهٔ غواړمه
خُدایه په کومو چې دا خلق په هوا کښې ګرځی

یوې جینۍ ورته منګی په سر خبرې کړې وې
په سرابونو پسې څکه په صحرا کښې ګرځی

حُسن يې نور دے ټول جهان ترې طوافونه کوی
مینه يې سیورے دے چاپیره رانه خوا کښې ګرځی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

خدائے خو دې داسې يو احساس بې مروته نۀ کړې
چې د خوشبو غوندې ګل پرېږدی په فضا کښې ګرځی

شاکرؔ د مينې د دېوتا نه لاس نيوه کړې ده
شاکرؔ به تول عمر د حسن په دعا کښې ګرځی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

○

د نفرتونو نه دا ټول جهان کنګال غواړمه
د محبت په دولت زړونه مالا مال غواړمه

د ژوند تیرو له رڼاګانې د وصال غواړمه
د خپلې مینې په زور ستا د جبین خال غواړمه

چې د ازل نه د مئین سرې په زړۀ کښې پروت دے
د هغه درد په نوم نمانځل سګنے کال غواړمه

چې په پښتو باندې مې تنده زوره وره شوله
د سمندر په غاړه هم اوبۀ په سوال غواړمه

زما د خيال د آئينې رڼا او ستا تصور
زۀ د هغې نه هُم ښائسته ستا خدوخال غواړمه

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

چې ستا د مینې په معیار باندې پوره وخېژم
کۀ کمال غواړمه نو دغه یو کمال غواړمه

چې د سپرلی خلاف خبره په ما بده لګی
په دې خبره باندې خُدایه استقلال غواړمه

شاکرهٔ زۀ چې د ښائست دا کتابونه ګورم
ایزده کول پکښې څو تکی د جمال غواړمه

★★★★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

○

د ژوند په شاړه دشته د جمال ګلونه کرم
چې څوك خو به يې ښکل کړی په دې خيال ګلونه کرم

زۀ خپل روايتونه د وختونو سره بيايم
زۀ اوس هم په کودو کښې په دېوال ګلونه کرم

چې نۀ ورله سپرلے وی نۀ خزان وی تل تازه وی
يارانـــو زۀ به داسې لازوال ګلونه کرم

کۀ دا دنيا ښائسته شوه نو دا ژوند به لږ اسان شی
د لوړې نه کۀ مرمه خو فی الحال ګلونه کرم

سپرلے زما د حُسن په رنګونو پسې ګرځی
شاګرّه چې تالۍ خورمه په تهال ګُلونه کــرم

★★★★★

www.pukhto.net

چې ښکلې ده ، لوظونه ماتول هغې ته څهٔ دی
د نهٔ راتلو بانې را جوړول هغې ته څهٔ دی

سحر ورسره یو منګے په ترخ کښې ماښام بل وی
زړګیه نو اوس سترګې بدلول هغې ته څهٔ دی

د غیرېې او نظر د تودوخې نهٔ یٔ قربان شم
پرهر پرهر زړګی ټکورول هغې ته څهٔ دی

هغې خو ټول رنګونه د خپل حسن تابع کړی
مئین په یوه ګوته ګډول هغې ته څهٔ دی

په زلفو کښې سپین ګل ږدی په رخسار باندې تور خال ږدی
زمونږه سپینول او تورول هغې ته څهٔ دی

www.pukhto.net

چې شمع په خپل سر باندې لمبې بلې کړی خاندی
نو بیا د پتنګانو سوزول هغې ته څۀ دی

تودې تودې خبرې د نظر په ژبه وکړی
سرې سرې جذبې راپارول هغې ته څۀ دی

شاکرۀ ستا د شعر په معنیٰ باندې پوهېږی
د درد نه دې سندرې جوړول هغې ته څۀ دی

★★★★★

○

د ګودر غاړه ده مستی ده خندا دې ته وائی
سپرلیه راشه تماشې له ښکلا دې ته وائی

چې تۀ په ما باندې مئین ئې دروغ دې ته وائی
چې زۀ په تا باندې مئین یم رښتیا دې ته وائی

ددې دنیا مکارې کار د سړی زړۀ وژل دی
کۀ چا بلا لیدلې نۀ وی بلا دې ته وائی

چې خپل ښائست ئې د هر خام نظر نه پټ ساتلے
یه په هوا باندې مئینو حوّا دې ته وائی

ښه په ځان پوهه یم چې پړ یم خو اقرار نۀ کووم
په اصطلاح کښې دروغژنه انا دې ته وائی

www.pukhto.net

چې ښځې نر د ځناورو پشان یو ځائے ګرځی
ناپوهه خلق د فکرونو رڼا دې ته وائی

چې په لیدو ئې د ځیګر د پرهر ګُل تازهٔ شی
د سترګو تور د زړهٔ ټکور مسیحا دې ته وائی

اوبهٔ د خُلې نه غورځوی خو جانان نهٔ غورځوی
شاکرهٓ تهٔ څنګه مئین ئې وفا دې ته وائی

★★★★★

www.pukhto.net

○

هېڅ نۀ وی په ځوانۍ او ځلمیتوب کښې چې کوم خوند وی
خوند دا وی د پیرۍ په مئینتوب کښې چې کوم خوند وی

راځۍ چې ټول جهان ددغې خوند نه لږ خبر کړو
یارانو لېونو په لېونتوب کښې چې کوم خوند وی

زما خو د خوبونو په دنیا باندې یقین دے
په ویښه باندې چرته وی په خوب کښې چې کوم خوند وی

د ښار د جینۍ ټول عمر سینګار ورته لوګے شه
د کلی د جینۍ په ناوې توب کښې چې کوم خوند وی

شاکرهٔ د سنګـــــــر د شوګیـــرو نه دې قربان شی
د یار په سپین مړوند باندې په خوب کښې چې کوم خوند وی

★★★★★

www.pukhto.net

○

کۀ ډېر دې پـــتـــــــوومه ولې جان خلق پو هېـــرې
زما په دې رېښې رېښې ګرېوان خلق پو هـــــــبـــرې

د سترګو نه ئې بيا لکه د وور بخرى دانګې
په ما باندې لا څۀ کړې په جانان خلق پوهېږې

د ځينو ځينو خلقو په ايمان به پوهه نۀ شې
د ځينو ځينو خلقو په ايمان خلق پوهېږې

زما د زړۀ يقين به د چا زړۀ کښې څنګه ځائے شى
د خپلو خپلو زړونو په ګُمان خلق پوهېږې

په ځان باندې پوهېږى په ځان څکه نۀ پوهېږى
په ځان باندې به پوئې شى چې په ځان خلق پوهېږى

د مينې تذکرې د لېونو سره پکار دى
شاکرؔه په دې چرته هوښياران خلق پوهېږې

★★★★★

Pukhto.Net
www.pukhto.net

○

په شان د لېونو د ګوتو شمار سړے ونهٔ کړی
په کال کښې چرته ذکر د خپل يار سړے ونهٔ کړی

د داسې محبت د درد ثواب دې خُدائے په خېر کړی
چې يار له خپلو سترګو کښې سينګار سړے ونهٔ کړی

څه تهٔ يې په ځان لار کړه تهٔ به لار هغهٔ له ورکړې
چې ستا سره په ژوند کښې يوه لار سړے ونهٔ کړی

په ځينې ځينې وخت کښې په صدو سړے ورستے شی
په ځينې ځينې کار کښې چې تلوار سړے ونهٔ کړی

د ژوند د فلسفې لفظونه خپلې مانې بائيلی
د ژوند د تقاضو نه چې انکار سړے ونهٔ کړی

شاکـــــرهٔ محبت د دې نه نور هُم زيات کـيـدے شی؟
شاکــــــرهٔ چې تصوير ته هُم اظهار سړے اونهٔ کړی

★★★★★

www.pukhto.net

○

په دې بازار کښې ئې د زړۀ درزا ته چرته پرېږدی
لېونی څوك د محبت سودا ته چرته پرېږدی

چې چار چاپېره وی تیارۀ د دوئ روزګار روان وی
دا په تیارو مئین دنیا رڼا ته چرته پرېږدی

ما د یار مینه د خپل زړۀ په مدعا ګرځوی
ما د یار مینه د خپل زړۀ رضا ته چرته پرېږدی

دا په ګوګړو لمبېدلے زیړ زبېخلے سپرلے
ګل په شوخئ د زړۀ د تل خندا ته چرته پرېږدی

شاکرؔ دې مینه د لېمو په سر شوګیر ګرځوی
شاکرؔ دې مینه اوس د خوب دنیا ته چرته پرېږدی

★★★★★

Pukhto.Net

www.pukhto.net

○

دې پرخې څۀ د ګل په غوږ کښې په ژړا کښې ووې
یو لېونی بل لېونی ته په خندا کښې ووې

نۀ پرې څوک وردېده نۀ تـرې چا څه خوند واخستو
مونږه د زړۀ د درد سندرې په هوا کښې ووې

دا ئې د چا سره په سر رسوې دا څۀ کوې؟
خپلې پښتو راته د مینې په ژبا کښې ووې

روغو رمتو ئې په خُلـــه باندې یقین نۀ کـــوو
یو لېونی د ژوند قیصه په یوه سا کښې اووې

شاکرۀ ستا خو هم په ږیره کښې سپین ولګېده
یوې جینۍ راته په ټوقـه په خندا کښې ووې

★★★★★

www.pukhto.net

لکه چې ګل د بوټی وشوکوې زر مړاوے شی
زۀ چې ور وګورم د یار ښکلے نظر مړاوے شی

اللّٰه دې وکړی چې ستا سترګې شامدام تورې وی
اللّٰه دې نۀ کړی چې زما د زړۀ پرهر مړاوے شی

تۀ چې منګے په سر کړې ژوند لکه سپرلے تازه شی
تۀ چې منګے د سر نه کوز کړې مازیګر مړاوے شی

ستا وچې شونډې د لمدو نه هم بلها خورې دی
وسکې ترې جوړې شی اشنا چې کله کور مړاوے شی

مونږه به اُف نۀ کوو تۀ د وور باران وروې
مونږ وې یو ګُل به د ایلم د غرۀ په سر مړاوے شی

حقیقت خوئ دے د فطرت خویونه نۀ بدلیږی
چرته به شوخ شاکرؔ د ژوند په یو ډګر مړاوے شی

★★★★★

www.pukhto.net

○

د یار په خله باندې ګلاب ګلاب خندا هم نۀ وه
زما په سترګو کښې شبنم شبنم ژړا هم نۀ وه

حسن يې ډېر وو ورسره لږه وفا هم نۀ وه
کۀ زيبا نۀ وه خو خبره نازيبا هم نۀ وه

مونږه د ګرم بازار شور په ځان کښې سم ورك کړی
چې کور ته راغلو د يو تن سره سودا هم نۀ وه

زۀ د دنيا په طبيبانو باندې وګرځېدم
د يو غريب سره زما د زړۀ دوا هم نۀ وه

د شك د بام نه شوه راکوزه د يقين غېږې ته
مينې مې سترګو ته کاتۀ او وار خطا هم نۀ وه

د ژوند روزګار پسې زړګيه پرېښودلے نۀ شو
ښکلې خو وه خو دومره ښکلې خامخا هم نۀ وه

Pukhto.Net

هغه د ژوند د تقدس په فلسفه پوهېده
کۀ رضا نۀ وه پښتنه وه نارضا هم نۀ وه

دومره شوه لويه چې زما د زړۀ په غلا پوهـه شوه
دومره وړه وه چې د خپل نظر د غلا هم نۀ وه

زۀ ستا د زلفو د تيرو په تصور کښې ورك ووم
په هاغه شپه دې په خالونو کښې رڼا هم نۀ وه

شاکرّه تا چې پرې په تېر کښې لږ اعتبار کړے وو
د هاغه يو سړی په سترګو کښې حيا هم نۀ وه

★★★★★

Pukhto.Net

○

کۀ غواړې په هر حال کښې د خپل ځان دپاره خېر
پيدا کړه په خپل زړۀ کښې د جهان دپاره خېر

په دې کوڅو کښې ما د بادشاهانو وخت تېر کړے
په کومو کښې چې غواړم د جانان دپاره خېر

بېګا راته په خوب کښې يو سپين ږيرى داسې ووې
چې دے په محبت کښې د انسان دپاره خېر

زمونږ د ازادۍ سندرې لاړې اسمانى شوې
غليمه اوس دې غواړه د زندان دپاره خېر

زمونږه رهبران دې خُدائے په نېکه باندې ياد کړى
په زړونو کښې ئې نشته د کاروان دپاره خېر

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

زمونږ چې وینه توئ شی نو د خان پتې خړوب شی
زمونږ په بې خبرۍ کښې دے د خان دپاره خېر

شاکرهٔ د ارمان دپاره خېر د خُدایه غواړه
درد تهول عمر غوښتلے د درمان دپاره خېر

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

چې ستا په نصیب کېږی کۀ زما په نصیب کېږی
د درد نصیب ته ګوره چې د چا په نصیب کېږی

په وهم او ګُمان کښې مې دیدن راغلے نۀ وو
جانانه دیدنونه په رښتیا په نصیب کېږی

د سترګو په ارمان دې د ړندو په شانتې ګرځی
د کومې آئینې به دا رڼا په نصیب کېږی

د ځینو ځینو خلقو به دعا وی په نصیب کښې
د ځینو ځینو خلقو به دعا په نصیب کېږی

چې څوک دې د خندا په حقیقت باندې پوهېږی
د هغه نصیب دار به دې ژړا په نصیب کېږی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

یو ګُل دے هم بورا دے هم بلبل دے او هم زهٔ یم
د چا به د فطرت دغه ښکلا په نصیب کیږی

یاران دې خُدائے هر چاله د شاکرؔ پشانتې ورکړی
کهٔ دا خبره وی نو ګورے دا په نصیب کیږی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

زما د زړۀ او د سپرلی ددې شومتوب نۀ راځی
د ګل په خله باندې يو خسکے مسکيتوب نۀ راځی

د خوبندو مېندو لوپټې مو لاړې والوتلې
ددې دپاسه هم په مونږ کښې څۀ نرتوب نۀ راځی

ستا د وصال او د هجران په مېنځ کښې دا فرق دے
اول مې خوب نۀ تښتېدو اوس راله خوب نۀ راځی

زمونږه چم ته چې راځی نو سترګې نۀ تورَوی
تۀ به وے مونږ له ګني چل د مئينتوب نۀ راځی

ما ورته ځان په ژړا مړ کړو خو له ډېره کبره
د ګل په شونډو باندې خسکے مسکيتوب نۀ راځی

www.pukhto.net

یوه وړه په سرۀ غرمه کښې خېراتونه غواړی
ښنګ به په دې باندې بې وخته پېغلتوب نۀ راځی

وائی د وخت د تېرېدو سره سړے سړے شی
زمانې اوشوې خو په مونږ کښې سړیتوب نۀ راځی

کۀ لېونتوب غواړې شاکرۀ جذبې ګرمې ساته
سړو جذبو له ګورے چرته لېونتوب نۀ راځی

★★★★★

www.pukhto.net

پہ سر مې د رنګونو نه ډک ښار اخستے دے
یو خیال مې ستا له حُسنه مستعار اخستے دے

ما عمر له زېږګی زېږګی احساس سندره کړے
ما عمر له د زړهٔ د درد نه کار اخستے دے

بیګا له به لړ وار کوې زړګیه لېونیه
بیګا له مې د برو اوبو وار اخستے دے

د سترګو د تصویر د ورکېدو نه یرېدمه
پہ زړهٔ کښې مې تصویر د هغې یار اخستے دے

کۀ هر څوک هر څه وائی خو زما خبره دا ده
دا وور ددې چینې نه دې چینار اخستے دے

Pukhto.Net
پښتو

د چا د هېرولو اقرار دومره اسان نۀ دے
دا دومره لوئے قدم مې په انکار اخستے دے

په بيعه خو خبره د اسمان نۀ اوړېدله
په مينه مې د يار د زلفو تار اخستے دے

شاکرّه د هغو سره په لاره باندې نۀ ځم
چې چا د محبت د زړۀ ازار اخستے دے

★★★★★

www.pukhto.net

○

د زړهٔ زخمونه د ټکور خمار ته چرته پرېږدی
مونږ څوك په خپله خاوره خپل اختيار ته چرته پرېږدی

زهٔ ستا يادونه د خپل زړهٔ د كوره نهٔ وباسم
چرته ورك نهٔ شی څوك واړهٔ بازار ته چرته پرېږدی

زهٔ د خپل چم نه ستاسو چم ته تاؤ راتاؤ شم درشم
دا كربلېچونه سړے نېغي لار ته چرته پرېږدی

مونږ چي دا څهٔ كوو نو ډېر د زړهٔ په زور ئې كوو
مونږ نفرت خپل حالات د ميني كار ته چرته پرېږدی

زهٔ د خالونو شمارولو نه وزګار نهٔ يمه
دغه روزګار سړے د نور څهٔ شمار ته چرته پرېږدی

www.pukhto.net

مونږه په پاکو هواګانو کښې سندرې وايو
دا تور لوګی مست بلبلان چغار ته چرته پرېږدی

تا له به نن شاکّر په لاره کښې يو ګل درکوی
نور ئې دا کلے د خپل زړهٔ اظهار ته چرته پرېږدی

★★★★★

خبرې د جانان ددې د خُلې خلقو ايستې
زما د خاموشۍ نه به قيصې خلقو ايستې

دا اوس چې کومه لوبه په دې کلی کښې ده جوړه
ددې خبرې تاسو ته نارې خلقو ايستې

زمونږه بې حِسۍ ورته مُسکۍ مُسکۍ کېدله
زمونږ د رواياتو نه جامې خلقو ايستې

دا نن چې په کوم ځائے کښې خلق ځان معتبر بولی
د دغسې ځايونو نه به خپې خلقو ايستې

چې ما د خپل ارمان د زړهٔ درزا نغمه کوله
حېران وو دې خبرې ته توبې خلقو ايستې

www.pukhto.net

کوم څوک چې د قلا په حفاظت باندې ولاړ وو
نو ښځې د چنې به ئې هُم دې خلقو ایستې

زمونږ د محبت معیار، معیار د محبت وو
زمونږ د محبت به کنایې خلقو ایستې

شاګرهٔ په جمات کښې اوس په سر باندې پنې ږدو
شاګرهٔ په جمات کښې به پنې خلقو ایستې

★★★★★

www.pukhto.net

○

په دې خبره دې زما نه تول جهان جدا شي
خدائے خو دې نۀ کړی چې د زړۀ نه مې جانان جدا شي

زړۀ مې د داسې کېفيت نه نن سبا تېرېږی
لکه د چا نه چې خوارۀ خوارۀ ياران جدا شي

څۀ سرګـــردانه سرګردانه شانته ژوند به کوی
خدايه د ګل نه چې خوشبو په بيابان جدا شي

تمامه ورځ ئې د خپل زړۀ په سېوری وګرځووم
رڼا ماښام وی رانه سېورے د ارمان جدا شي

زما او ستا د ياد خبره دومره لويه نۀ ده
بس دومره ده لکه د درد نه چې درمان جدا شي

www.pukhto.net

د زړۀ د تريک تپوس ترې اوکړئ کۀ دروغ نۀ وائی
چې په يو کلی کښې ثوک دوه رونړه خانان جدا شی

سُور پسرلے هم هلته ګل راتوکولے نۀ شی
شاکرۀ کوم ځائے چې د يو بل مئينان جدا شی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

را چې پـه خبرو شی خبرې د ثواب کوی
کله چې کارونه کړی کارونه د عذاب کوی

ځۀ چې دې په زړۀ وی نو هغه کوې هغه کوه
ستا سره به کوم يو زورور حساب کتاب کوی

دے سړی په پته د ګنا نه توبه ايستې ده
دا سړے ښکاره د محبت خوارۀ شراب کوی

خُدائے دې د خپل کور د دشمنۍ نه سړے وساتی
لوبې په سړی باندې زړګے خانه خراب کوی

زۀ لا په خاصو لېونو کښې حساب نۀ يمه
څړيکې او دردونه مې زخمونه په حساب کوی

www.pukhto.net

مینه روایت دے روایات خلق ژوندي ساتی
مړې! خپل مئین ته خلق داسې سوال جواب کوی؟

کله چې د حسن ، محبت او پښتو ذکر وی
خلق به شاکرۀ ستا د شعر انتخاب کوی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

کهٔ ځان دې کړلو زمکه نو اسمان به درنه جوړ شی
د چا د سترګو تور به شې جانان به درنه جوړ شی

چې ټول عمر د نفس سره د جنګ په حال کښې تېر کړې
انسانـه! نو ایله چرته انسان به درنه جوړ شی

زړګیه د الفت سندرې ډېرې ډېرې وایه
دا درد به دې خُدائے ښهٔ کړی او درمان به درنه جوړ شی

یه ځان له ځان له ناستو د حسرت پوکو کوونکو
پوکے پوکے را یو ځائے شئ طوفان به درنه جوړ شی

په ګوته ځان ښندې او د سرو شونډو په ارمان ئې
د وور نه چې راتېر شې نو پېزوان به درنه جوړ شی

د وسپنې شپلۍ چې په غزل پسې زړې کړې
شاګرّه نو شاګرد چرته د ګرآن به درنه جوړ شی

★★★★★

Pukhto.Net

○

هر خوا سپرلے شو چې راخور دې کړو اوربل په غېږ کښې
لکه نیولے چې چا وی د ګُلو تل په غېږ کښې

زۀ خو په دې د زمانې د سترګو خوب تښتووم
سترګې پټومه اودۀ کېږم د اجل په غېږ کښې

د محبت د خوږو خوند د چا د روح نه نۀ ځی
دې نظریې چې څوك اخستے دے یو څل په غېږ کښې

ما به د ښکلی یار په پاکه مینه هله وژنی
کۀ چا خوشبو چرته لیدلی وی د ګُل په غېږ کښې

د محبت د کار تړون زما په نوم شوے دے
زۀ ئې اخستے یم د ټولو نه اول په غېږ کښې

شاکرۀ ټوله دُنیا داسې ناقلاره ښه ده
خو ستا ارمان دې خُدائے قلار نۀ کړی د بل په غېږ کښې

★★★★★

www.pukhto.net

○

د رېژېدو په وخت چې هم ګلاب مسکے شی
زما په خیال باندې به هاغه وخت سپرلے شی

د محبت د نوَر رڼا ته نوَر سپوږمۍ پسخېږی
چې ستا د مینې داغ پرې ولګی تندے تندے شی

چې چارچاپېره مړهٔ د شمعې پتنګان ووینم
ستا د دیدن ارمان مې مست مست شی زلمے زلمے شی

ما د ګُل ګُل جانان په غېږ کښې د خوب قصد کړے دے
منی به نهٔ شم کهٔ دا ټول جهان ازغے ازغے شی

داسې حالات دی چې ښوك خپل او پردے نهٔ پېژنی
داسې حالات غواړم چې خپل خپل شی پردے پردے شی

www.pukhto.net

یه په خزان ورپسې شوو یه ناپوهه خلقو
چې د سپرلی لمنه ونیسی سړے سړے شی

دا د سر تېرو لېونو د پښتنو کلے دے
دلته د ننګ په وخت کښې مړے هُم ژوندے شی

ستا د داغ داغ زړګی خندان فکر باغ باغ په خاطر
شاکرهٔ ژوند دې ټول ګُلاب ګُلاب رېدے رېدے شی

★★★★★

www.pukhto.net

○

دروغ رښتیا به سرې څومره زمانې ته وائی
ژوند به ترخو د ځان مئینو نظریې ته وائی

ددې خبرې په راز یو سرې هُم پوهه نۀ دے
چې پتنګ پټ په غوږ کښې څۀ بلې ډیوې ته وائی

څه تۀ یوه نقطه د خپلې دائرې نه اوڅه
د زرۀ دلیل د نظر هرې زاویې ته وائی

لاړې ساهو جذبې مو هُم بې مروته شولې
محبت خلق ضرورت او ملازې ته وائی

چې د جانان سترګې بڅرې د وفا رانولی
زما په خیال لیلة القدر به دې شپې ته وائی

www.pukhto.net

چې دې سړی ته لږ آداب د زندګۍ اوښايو
زما قيام زما رکوع زما سجدې ته وائی

د ځينو ټکو په لغاتو کښې تصحيح پکار ده
لکه پړونے چې نرۍ شان لوپټې ته وائی

ما د خپل کار نه خپل مقصد نه اړولے نۀ شی
خلق دې شل ځله ريا زما جذبې ته وائی

شاکرّه ټول جهان ته دا خبره اورسوه
چې محبت يوې سپېڅلې عقيدې ته وائی

★★★★★

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

نن دې د ستر‌ګو نه زما د زړهٔ ارمان جوړ کړے
تهٔ چې دا خاندې نو څهٔ چل دې په ایمان جوړ کړے

د څوارلسمې سپوږمۍ مخ د مقېښونو ستورى
د لوپټې نه ئې د نيمې شپې اسمان جوړ کړے

بس څوك راپاڅى او وزرې مو په وېخ کښې پرې کړى
مونږه چې کله هُم د ژوند الوت ته ځان جوړ کړے

مونږ لېونى نهٔ يو نو څهٔ يو لېونو ملګرو
چې د خپل لاس تراشلى بُت نه مو جانان جوړ کړے

داسې به چرته په ځنګل کښې ځناور ونهٔ کړى
چې څومره شر شدت په ښار کښې نن انسان جوړ کړے

شاکرهٔ زهٔ به اخر مچ په پوزه ځنګك پرېږدمه
تا راله هُم چارګل جوړ کړے هم پېزوان جوړ کړے

★★★★★

Pukhto.Net
www.pukhto.net

○

مونږ دواړه د یو بل د زړهٔ درزا د ژوند خوارهٔ
زهٔ ستا د ژوند خوارهٔ او تهٔ زما د ژوند خوارهٔ

د خپل رحم نه زیات يې په عمل دی غره کړی
قدرت سود کړی نهٔ دی په هر چا د ژوند خوارهٔ

چې ژوند وی جفاګانې وفاګانې به پکښې وی
هم دا د ژوند خوارهٔ دی او هم دا د ژوند خوارهٔ

د ژوند د تقاضو نه ځان خبر کړه لېونیه
کهٔ غواړې د دنیا نه خامخا د ژوند خوارهٔ

یارانو مئینانو دا خبره دروغ نهٔ ده
په مینه کښې پراتهٔ دی په رښتیا د ژوند خوارهٔ

د ژوند ترخو د ژوند نه ساه ایستلې ده شاکره
حیران ورته ولاړ دی وارخطا د ژوند خوارهٔ

★★★★★

Pukhto.Net
www.pukhto.net

○

د مینې درد د ژوند سامان به مې په زړهٔ کښې ساتې
خُدایه کهٔ هر څهٔ وی جانان به مې په زړهٔ کښې ساتې

زهٔ په پُښتو باندې مئین یم چرته مړ مې نهٔ کړې
یوه ټپه ، یو یا قربان به مې په زړهٔ کښې ساتې

چې نور سپوږمۍ ترې رڼاګانې مستعار اخستې
د هغه دوو سترګو ارمان به مې په زړهٔ کښې ساتې

د تصور تصویر کهٔ هر څومره واضح نهٔ وی خو
په خپل ښائست باندې ایمان به مې په زړهٔ کښې ساتې

چې دا دُنیا به یوه ورځ د محبت ځانګو شی
دغه امید دغه امکان به مې په زړهٔ کښې ساتې

www.pukhto.net

په ما مئينه ! مئينتوب ګورے څهٔ توقې نهٔ دی
لکه د زړهٔ ، لکه د ځان به مې په زړهٔ کښې ساتې

چې نهٔ ترې ناست څوك تېنګېدے شی نهٔ ولاړ شاکړه
د زړهٔ د هغې درد پښان به مې په زړهٔ کښې ساتې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

○

د خپل جمال په آئينه کښې به خپل ځان ته ګورى
لېونى نۀ ده چې زما د زړۀ ارمان ته ګورى

هر يو سړے ئې د سرو شونډو په خندا مئين دے
خُد ائېګو کۀ يو سړے د ګل خيرې ګرېوان ته ګورى

د ښائستونو لېونى په ګُل درو کښې ورك شو
لکه چې درد په غټو خپل درمان ته ګورى

خلقو د ژوند او د جانان سندرې ښېلې کړلې
خلق په کومو سترګو د جانان ته ګورى

د محبت تقاضې هُم د مصلحت نخښې دى
چې په سپرلى مئين وى لړ خو به خزان ته ګورى

www.pukhto.net

د ژوند غوښتنې چې د چا په خپل اختیار کښې نۀ وی
یوه ورځ شین ته ګوری بله ورځ باران ته ګوری

شاکرّه ژوند د بې نیازۍ په خوا کښې ښۀ تېرېږی
لېونے زړۀ مې پکښـــې ګټې او تاوان ته ګوری

★★★★★

○

چرته چې وی رسم و رواج محبت
هلته به وی په بیعه بیاج محبت

د وخت په سترګو کښې ازغے محبت
د وخت د زړهٔ د درد علاج محبت

د یوې مور په لاس کښې تار او تنې
د یو بچی د ګرېوان کاج محبت

نفرته تهٔ ئې د جهان زوره ور
خو په جهان به کوی راج محبت

نهٔ مې قبول وو نهٔ مې دے نهٔ به شی
د رقیبانو د مزاج محبت

www.pukhto.net

د محبت په زړۀ کښې ځائے شوم اخر
نن رانه واخستو خراج محبت

شاکرۀ ډېر بې خلې بې ژبانه یمه
خو دے ساتلے زما لاج محبت

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

○

زما او ستا خبرې ختمې شولې
لاړې اشنا خبرې ختمې شولې

دا مونږه یو بل ته دروغ وئیلی
کۀ په رښتیا خبرې ختمې شولې

اوس به ښکاره ښکاره خبرې کوو
هغه د غلا خبرې ختمې شولې

د زړۀ خبره مو یوه ونۀ کړه
او د دُنیا خبرې ختمې شولې

شاکرۀ بیا دې سترګې ښکته کړلې
شاکرۀ بیا خبـرې ختمې شــــولې

★★★★★

www.pukhto.net

سازو ته ساز او غلو ته غلهٔ ووایو
راځئ چې کښېنو څهٔ نه څهٔ ووایو

دې پُښـــتـــنو ته به کانړهٔ ووایـــو
دې پُښتنو ته به ړاندهٔ ووایـــو

کهٔ ښې خبرې مونږ کولے نهٔ شو
د چا خبرې ته به ښـــهٔ ووایو

"دا به زمونږه په ازل کښې ليك وه"
اوس چې دا نهٔ وايو نو څهٔ ووایو

د پُښتنو په ککرو کښې څهٔ دی
ځنګه دې بوسو ته مازغهٔ ووایو

ځئ ! خو سرونه به مو پرې کړی کنه
چې د يوې نه ورته دوه ووایو

شاکرهٔ ژوند ته به لېمه ووایـــو
شاکرهٔ مينې ته به زړهٔ ووایـــو

★★★★★

www.pukhto.net

○

ځنګ چې زوره ورو سره کور کول اسان نهٔ دی
داسې د کمزورو سره زور کول اسان نهٔ دی

زهٔ په تا مئین یمه او زهٔ په تا قربان یمه
هسې په خُله اووایه دا نور کول اسان نهٔ دی

خوب د محبت د سپرلی هر سړے لیدے شی خو
لوبې د ګُلاب د مخ په وور کول اسان نهٔ دی

ستا د سترګو تور شومه او ستا د زنې خال شومه
یاره سپیناوے ددغه تور کول اسان نهٔ دی

مینه یو حالت دے په قسمت محسوسولے شی
چا ته وضاحت ددغې سور کول اسان نهٔ دی

www.pukhto.net

زۀ چې بې وفا شمه نو دا پېغور به څنګ ورمه
دلته کښې خو چا ته دا پېغور کول اسان نۀ دی

مينه زوره‌وره ده چې کاښی هُم ګويانه شو
هسې خو خبرې د انځور کول اسان نۀ دی

هغه ورځې نۀ دی چې شاګرّ دلې بې وسه وو
اوس ګورے په مونږه ظلم زور کول اسان نۀ دی

★★★★★

www.pukhto.net

○

کار ته روزګار ته مې د خوږ زړګی درزا نهٔ پرېږدی
مینه پرېږدمه خو څهٔ چل دے مینه ما نهٔ پرېږدی

لکه خوشبو قُدرت د ګُل نه جُدا کړے یمه
د جانان غېږه څوك په خوښه په رضا نهٔ پرېږدی

مونږه په زړونو کښې د یو بل دیدنونه کوو
مونږه د سترګو دیدنونو ته دُنیا نهٔ پرېږدی

کله ئې یو بابا له بیائی کله بل بابا له
د لېونی په سر کښې څوك د یار سودا نهٔ پرېږدی

"روستی سلګی رسول غواړی د سبا غېږې ته
د انتظار د شپې ډیوه راښکودې سا نهٔ پرېږدی"

www.pukhto.net

مینه کوه چې په هر کار کښې دې اخلاص پېدا شی
دا داسې کار دے چې په زړۀ کښې خسکے غلا نۀ پرېږدی

د خپل محل په هر یو ګوټ کښې مشالونه بلیٔ
زما د قبر په یو ګوټ باندې رڼا نۀ پرېږدی

د زړۀ زخمونه د شاکؔر راتول کړه یا تازۀ کړه
ثوك خپل مئین د خپل نظر نه بې نوا نۀ پرېږدی

★★★★★

○

چې ستا به په تندی تبه دپاسه ګرځېده
زما به په زړګی تبه دپاسه ګرځېده

یارانو د سرو سترګو وچو شونډو معنیٰ څهٔ ده
یارانو په سپرلی تبه دپاسه ګرځېده

تا خپله لوپټه د هاړ غرمو ته وچوله
او ستا په لېونی تبه دپاسه ګرځېده

نن بیا د یار رخسار د زرګر وور وو تازه کړے
نن بیا په مېخکی تبه دپاسه ګرځېده

چې کوم سړی خپل ځان په ټول جهان وو سېورے کړے
په هاغه یو سړی تبه دپاسه ګرځېده

نن بیا د رېدی رنګو اوبو وار وو په چینو کښې
شاکرهٔ په رېدی تبه د پاسه ګرځېده

★★★★★

www.pukhto.net

# زړۀ او ذهن

دا ټوټې ټوټې مه ګڼه خپل روح به پکښې بائيلې
ارمانه ځان خبر کړه دا د زړۀ او ذهن جنګ دے

زما د محبت انجام به خُدائے خبر چې څۀ وی
زما په محبت زما د زړۀ او ذهن جنګ دے

○

چې د خپل فکر د ښائسته پېغور جامې واغوندی
ډېره مزه کړی چې سړے د وور جامې واغوندی

چې ټول جهان ته توره دار وی خپل جانان ته سپین وی
کوم بختور دے چې ددغه تور جامې واغوندی

اوسنو جونو په خپل ځان داسې کانې کړې دی
لکه چې مشره خور د کشرې خور جامې واغوندی

د تهذیبونو ارتقاء به خپل مرام ته رسی
چرته به دا لغړ سُغړ انځور جامې واغوندی

د تلو راتلو جامې به چا چرته په کال اغوستې
اوس که په کال کښې چرته څوك د کور جامې واغوندی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

چې د اختر په ورځ دې ټول جهان ته اور ورته کړم
چې یو ماشوم لغر سُغړ وی نور جامې واغوندی

شاکرهٔ اوړے دے خو خُدائے دې واورې اوورو ی
کهٔ چرته خلق د یخنۍ په زور جامې واغوندی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

دا مې خپل قسمت زما په خيال په خوب کښې اوليدو
ما د قُطب ستورے او ستا خال په خوب کښې اوليدو

درد چې خُدائے بې دردو له ورکړۍ نو هغه داسې وی
حُسن په عروج کښې خپل زوال په خوب کښې اوليدو

هغه ورځ به خامخا جانان زما تپوس کوو
کله چې به ما د بوډۍ ټال په خوب کښې اوليدو

بيا مې د يو رور په زړۀ کښې څۀ کۀ څۀ راغلی دی
بيا مې په خپل غولی کښې دېوال په خوب کښې اوليدو

درد د خپل مئين د زړۀ په کور کښې هُم بې کوره وو
ګُل مې په سپرلی کښې په بد حال په خوب کښې اوليدو

www.pukhto.net

دا رښتونے خوب دے دا د ځان تعبیر په خپله دے
ما خپله شړۍ او د یار شال په خوب کښې اولیدو

زۀ شاکر به هله د آقا په غلام شمېر شمه
کله چې مې هُم حضرت بلالؓ په خوب کښې اولیدو

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

څوك چې په خوبونو خنداګانو كښېږ اصراف وكړي
دا سړے به څنګ د خپل مقصد سره انصاف وكړي

دوئ خو د حالاتو پسته غبرګ كښې لوئې شوى دى
دوئ به د حالاتو سره څنګه اختلاف وكړي

څوك دى چې انسان له دې يو څو ګزه جامې وكړي
ډېر دى چې كعبې له دې يو زر ګزه غلاف وكړي

دۀ باندې رښتيا څوك ښاپېرى مئينه شوې ده
ناست د كور په ګوټ كښې وى او سېل د كوهِ قاف وكړي

هسې خو انسان او خطا يو ځائے پېدا شوى دى
هغهٔ سړے نر دے چې په وخت ئې اعتراف وكړي

Pukhto.Net
پښتو

چا ته نزدے والے نور څۀ نۀ غواړی اخلاص غواړی
نیت خو دې سړے یوه لمحه د اعتکاف وکړی

یار زما د حق نه په هېڅ حال کښې خلاصېدے نۀ شی
یار کۀ ددې ټول جهان نه زر ځله طواف وکړی

دا خلق به ټول ددۀ په خپو کښې خپل سرونه ږدی
بس خو چې شاکرؔ د حقیقت نه انحراف وکړی

★★★★★

www.pukhto.net

○

چا چې یوې لمحې له فکر د نګار کړے وی
دۀ به په ټول عمر کښې دا د غرض کار کړے وی

دا چې ګرېوان راټولولو له ازغے نۀ مومی
دې لېونی به هُم ارمان د نوبهار کړے وی

زۀ چې د وور دې تندرونو رالوېدو ته ګورم
لکه دې غرونو ته چې چرته چا ازار کړے وی

د یار وصاله د خپل خوند په اندازه اووایه
چې یو مئین به تا ته څومره انتظار کړے وی

دلته خو هر سړی سپېره خزان په ښو نیولے
چرته یوکس نیم به سپرلے سپرلے روزګار کړے وی

www.pukhto.net

هغه جينۍ راته د حورې نه ښائسته ښکارېږي
چا چې په خپل کميس د خپلو ګوتو کار کړے وي

ددې دُنيا د ناوې څنګه سترګه داسې ګڼم
لکه ګوډۍ له چې ورو ډول سينګار کړے وي

دا چې په وخت وخت بارانونه د رحمت ورېږي
شاکرهؔ بيا به چا د جبر نه انکار کړے وي

★★★★★

www.pukhto.net

○

د یو ارمان راپارېدو نه زلزلې جوړې شوې
د دوو سترګو لګېدو نه تماشې جوړې شوې

نۀ تۀ زما شوې نۀ زۀ ستا شوم نۀ دنیا ورانه شوه
زمونږ د ژوند نه څۀ ناشنا ناشنا قیصې جوړې شوې

د تورو سترګو نه دې سپینه رڼا ورځ جوړه شوه
د سپینو سترګو نه دې تکې تورې شپې جوړې شوې

چې تۀ یې سر شوې هغه شته للو دې سر وخوړو
چې زۀ یې سر شوم ورته ګوره قافلې جوړې شوې

ستا د هجران له برکته زما عمر ډېر شو
ستا د هجران د څو لمحو نه زمانې جوړې شوې

www.pukhto.net

ما هر قدم ښۀ په اخلاص ستا په طرف اخستو
په هر قدم راته زړۀ چاودې حادثې جوړې شوې

د شاګرّ مینه د جانان منشاه ته ورسېده
د بختور د ګناهونو نه توبې جوړې شوې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

هغه شوخي ئې نشته هغسې ادا نهٔ کوی
خال ئې وهلے خو د نور غوندې رښا نهٔ کوی

چې د خپل ځان په ننداره شې په خپل ځان کښې ورک شې
په آئینه پورې څوك دا رنګې خندا نهٔ کوی

هغه سړے وو چې روا او نا روا ئې کول
هغه سړے دے چې اوس کومه ناروا نهٔ کوی

زمونږ واړهٔ به خاورې مینه محبت ایزده کړی
زمونږ وړو ته میاندې "پتهې پتهې تا" نـهٔ کوی

زما په زړهٔ باندې ئې سېورے ستـا د خال کړے دے
زما په سر باندې دې سېورے د هُما نهٔ کوی

www.pukhto.net

خُدائے کۀ دې زلفې په لاس هسې چرته راکړې اشنا
ګنی د کلی ماشومان راته دعا نۀ کوی

دومره صادق دے چې دروغ ئې په لېمو کښې ښکاری
د خپل شاکرؔ سره خبرې په رښتیا نۀ کوی

★★★★★

لکه زما نه چا په مینه کښې اقـــرار اخستے
لکه چې ستا نه چا په مینه کښې انکار اخستے

چې د لمبو په مېنځ کښې ناست یم د خندا نه شین یم
دا یو ترکیب مې ستا د خال نه مستعار اخستے

خلقو زمونږ په سرېتوب پورې خندا کړې ده
خلقو زمونږ نه په خوږه خوږه کښې کار اخستے

دلته خو هر سړی خپل کار ته د بل کار وئیلے
دلته کښې کوم سړی د خپلې برخې کار اخستے

زما په زړۀ باندې به څنګ وورونه نۀ بلېږی
وور مې سپرلی ښائسته پېښور ښار اخستے

د لېونی شاکرؔ د مینــــې زور ته ګـــوره کنـه
د خندا شین دے او په سر باندې ئې دار اخستے

★★★★★

www.pukhto.net

د سرو ګلونو کـر له ګُلالی سرې پکار دی
د ژوند سینګارولو له ژوندی سرې پکار دی

چې رنګ شی چې خوشبو شی چې په ټول جهان خوارهٔ شی
سپرلی سپرلی کارونو له سپرلی سرې پکار دی

د ځان او د ارمان ګټلو دغـــه تقاضـــه ده
یو څو تنه سر تېری لېونی سرې پکار دی

د ژوند د ګُلستان مزه د دواړو په وجود ده
څه ګُل سرې پکار دی څهٔ ازغی سرې پکار دی

شاکرهٔ یو سړے په زرو نورو باندې دروند وی
یو څو سرې پکار دی خو سرې سرې پکار دی

★★★★★

www.pukhto.net

○

شك د زړۀ نه اوباسه ګُمان د زړۀ نه اوباسه
هر څۀ ډېر او تېر دی خو بُتان د زړۀ نه اوباسه

خُدايه چې سبا به راته څۀ وائی چې څۀ اوکړه
نن خو راته وائی چې جانان د زړۀ نه اوباسه

سپين به شمه تور به شمه دا به شمه دا به شم
دغه يره ترهه د ايمان د زړۀ نه اوباسه

دا د پښتونخوا غرونه تنګی تنګی انګیہ انګیہ
يه شپونکيه! تۀ خو يا قُربان د زړۀ نه اوباسه

دا چرته پخوا په يو کتاب کښې ما کتلی وو
ځان کۀ بيامومندل غواړې نو ځان د زړۀ نه اوباسه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

سترګې راته اوښايه که مرم که پاتې کېږمه
غشے مې ددغې يو ارمان د زړۀ نه اوباسه

دا دُنيا خو ستا د کور د وينځې په مثال نۀ ده
دا د ليونی د زړه پشان د زړۀ نه اوباسه

مينه کۀ شاکره خپل مرام ته رسول غواړې
بس په دې کښې ګټه او تاوان د زړۀ نه اوباسه

★★★★★

www.pukhto.net

○

چې ستا په شونډو بلسېده پېمانې وور واخستو
مونږ ورته دغسې کاته مېخانې وور واخستو

زمونږ جونګړې ته سم نور په غرغره راکوز شو
چې د ډېوې نه د جانان لوپټې وور واخستو

د پورې شا نه څۀ نرے نرے لوګے راخېژی
د چا نیمګړې نیمه خوا یارانې وور واخستو

ما وې چې دا په وینو سور احساس د څۀ کېدے شی
چا راته وې د ګُل په خله کښې وږمې وور واخستو

راځئ چې کښېنو او ددې خبرې غوټه وکړو
چې دا د څۀ نه دې ښائسته ګلدرې وور واخستو

www.pukhto.net

قدرت یو څیز هم بې مقصده پېدا کړے نهٔ دے
د زرۀ د ځړیکو هم نوا شوه نغمې وور واخستو

چې انتها به ئې لا خدائے خبر په کوم رنګ کښې وی
په ابتداء کښې د جانان ارادې وور واخستو

چې تا په زرۀ پورې نیولې د ازل په ورځ وه
شاکرۀ شکر دے نن هاغې جذبې وور واخستو

★★★★★

www.pukhto.net

ستا په تصویر کښې رانه ټکے د جمال غلط شی
لکه ماشوم له چې څوك خال وهی او خال غلط شی

دروغ رښتیا خلق رایو ځائے کړی تاریخ ترې جوړ کړی
د خپل تاریخ نه ناخبره په خپل حال غلط شی

راځئ چې لږ د خپل احساس د دائرې نه وځو
کۀ دا غمونه مو پرې لږ شانته فی الحال غلط شی

په اشاره د محبت د سترګو پوهه نۀ شوم
لکه د چا نه امتحان کښې اسان سوال غلط شی

چې ستا د خیال او د رڼا په مېنځ کښې څه نسبت دے
چې آئینې ته مخامخ شم زما خیال غلط شی

www.pukhto.net

د چا د حُسن د محور نه چارچاپېره چورلی
د نور نه ځان ورك شی وختونه د زوال غلط شی

شاکرّه خُدائے دې د باطلې نظریې نه ساته
په دې کښې بائیلی د ایمان دولت لیکوال غلط شی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

## زړه ، جانان او جهان

یوه لحظه به يې زما نه بغېر نهٔ تېرېده
زړهٔ يې کلك شوے دے په ما پسې ژړا نهٔ ورځی

په دې وطن باندې دا څه سپېره سیلۍ راالوتې
چې په سپرلی کښې هم ګلونو له خندا نهٔ ورځی

مونږ د دنیا سره څهٔ داسې قسمه لوبه کړې
لکه وارهٔ چې وورکړی بل او چل يې بیا نهٔ ورځی

Pukhto.Net

www.pukhto.net

د ژوند د نظريې د خلې سندره داسې نۀ وه
يارانو تاسو وايئ خو خبره داسې نۀ وه

نظر مې خدائے فراخه کړو په ښۀ او بد ئې پوئ کړم
پرېوتې مې دنيا د تنګ نظره داسې نۀ وه

ددې خو د مخوکې نه بخرې دى چې دانګى
د امن د پېغام هغه کوتره داسې نۀ وه

په سلو کښې يو کس به د خوږمن زړګى خاوند وو
رالوتې ځان ځانى دلته د سره داسې نۀ وه

سينګار او آئينه د هغې ژوند د هغې ساه وه
جينۍ د خپل ښائست نه ناخبره داسې نۀ وه

کۀ مونږ ورته يو موتے يو اواز يوه نعره وے
خبره د غليم به زوروره داسې نۀ وه

په ژوند د اعتبار خبره ځومره بامعنى وى
شاکرۀ ستا خبره معتبـــــره داسې نۀ وه

★★★★★

www.pukhto.net

کهٔ خوشحالیانې په دې تول جهان نوستے نهٔ شمه
خو هلې ځلې به کوومه کېناستے نهٔ شمه

اللّه دې اوکړی چې ستا غیرې ته در ورسمه
اللّه دې نهٔ کړی چې ستا سترګو ته کتے نهٔ شمه

د غې خبرې د خودۍ د اسمان ستورے کړمه
چې زهٔ په خپو کښېنې د حالاتو کښېناستے نهٔ شمه

د زمانې د محرومۍ تپوس د چا نه اوکړم
دا زمکه کلکه ده اسمان ته ورختے نهٔ شمه

زما وزرې د مشرق مغرب نه هُم لوئې دی
دا جهان تنګک دے زهٔ په دې کښې الوتے نهٔ شمه

www.pukhto.net

د غرېو نیولې پېغلې اوښکه یمه ستر مې دے
په دې حالاتو کښې له کوره راوتے نۀ شمه

شاکرّہ ستا په دروغــژنـه وعده پوهه یمه
ډېره تېر وتې یمه نوره تېر وتے نۀ شمه

★★★★★

www.pukhto.net

د مینې د سپرلی د ګُل خندا د خوب لیدهٔ
یو ځل به په ربښتیا شی چرته دا د خوب لیدهٔ

ستا حُسن مې د روح د لاشعور په کور کښې اوسی
ستا مینې حرام کړی دی په ما د خوب لیدهٔ

په هاغه کیفیت پسې مودې اوشوې چې ګرځم
چې چا ته وریادېږی ښکله بیا د خوب لیدهٔ

په اصل کښې چې سترګې سرے پټې کړی راوېښ شی
په اصل کښې دا ژوند دے د دُنیا د خوب لیدهٔ

دیدن په غړېدلو سترګو مه غواړه زما نه
زمونږه په قسمت کښې دی اشنا د خوب لیدهٔ

www.pukhto.net

د هاغه رڼو سترګو په رڼو لارو کـــــۀ لاړې
ښکاره به درته شي د نمر رڼا د خوب ليدۀ

شاکرۀ هر سړے د محبوبې په غېږ کښې پروت دے
دا ځکه چې هر چاته دی وېړيا د خوب ليدۀ

★★★★★

www.pukhto.net

هغې ما ته کاتهٔ خو ما هغې ته نهٔ کاتهٔ
پتنګ د خپل فطرت خلاف ډيوې ته نهٔ کاتهٔ

په خُله باندې هر چا د محبت قيصې کولې
خو چا ددغې ټکې فلسفې ته نهٔ کاتهٔ

هغې زما په سترګو کښې خپل ځان وو سينګار کړے
هغې له ډېره کبره آئينې ته نهٔ کاتهٔ

په مونږ پسې قُدرت مدام ليتکے وی رڼا کړے
بېګا وورورکی د وصال شپې ته نهٔ کاتهٔ

کهٔ ما ورته ډېر وې چې دا سراب دے اوبهٔ نهٔ دی
يارانو تنده غرو زما خُلې ته نهٔ کاتهٔ

www.pukhto.net

پهٔ ځان باندې مئين خلق ورکېږی او سپکېږی
پهٔ ځان باندې مئينو خلقو دې ته نهٔ کاتهٔ

شاکرهٔ هم هغه سړے مې پير دے او مُرشد دے
چې چا پهٔ محبت کښې زمانې ته نهٔ کاتهٔ

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

محبت دې خُدائے په خېر کړی او صنم دې خُدائے په خېر کړی
چې د زړهٔ د کوره وځی هغه غم دې خُدائے په خېر کړی

نهٔ مې ځوك لیونے بولی نهٔ مې ځوك په کاڼو ولی
بیا به نهٔ راځمه دلته ستاسو چم دې خُدائے په خېر کړی

د ګلونو په سرونو لمبې یخې یخې کیږی
ستا رُخسار ته دې خُدائے خیر کړی او شبنم دې خُدائے په خېر کړی

لیونے په هټکو هټکو د جانان په غېږ کښې ژاړی
د سپرلی د بارانونو دا موسم دې خُدائے په خېر کړی

دم قدم مې دې خدائے یو کړی هغهٔ دم به ستا قدم وی
دم قدم مې نهٔ یو کیږی دم قدم دې خُدائے په خېر کړی

www.pukhto.net

دغه لوبه مې راوړې په فطرت کښې ادم زاد يم
له ازله پسې منډه ده غنم دې خُدائے په خېر کړې

بې خودۍ کښې سم سړے وی چې په خود شی لېونے شی
لېونے شاکرؔ مې خوښ دے هغۀ سم دې خُدائے په خېر کړې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

ګلونه د سپرلي په انتظار باندې ولاړ دي
جانانه ستا په لار کښې په قطار باندې ولاړ دي

چې راکړه وه نو څومره خلقو لاس وو پورته کړي
چې ورکړه ده نو څو تنه په شمار باندې ولاړ دي

د مينې خوشبوئي د کشمالو په ټل خوره شوه
د حُسن ښاپيرۍ ئې په سينګار باندې ولاړ دي

ورخېژي به پرې څنګه د لښکر سره ئې غم دے
يو څو تنه سرې په هغهٔ ښار باندې ولاړ دي

په سترګو کښې ئې سمه د جنت پشان شوخي ده
په سترګو کښې مُسکې دي او په دار باندې ولاړ دي

شاکــــرهٔ ستا ملګري د خزان د ياري نهٔ دي
شاکــــرهٔ ستا ملګري په بهار باندې ولاړ دي

www.pukhto.net

کهٔ ښهٔ غواړې جو ښهٔ کېږی کهٔ بد غواړې جو بد کېږی
په دنيا کښې چې څهٔ کېږی د انسان په خوښه کېږی

تش په نوم باندې د خان دی، حقيقت کښې داسې نهٔ ده
په پټی کښې چې څهٔ کېږی د دهقان په خوښه کېږی

Pukhto.Net
پښتو

د مقصد په دې دنيا کښې د يو لوئے مقصد دپاره
کهٔ تهٔ يو قدم په شا شې د پېغور خبره نهٔ ده

زوروره! ځان کمزورے کړه چې خُدائے دې زورور کړی
دا خبره ګورے واوره چې د زور خبره نهٔ ده

www.pukhto.net

○

پوتې پوتې زره زره پرېوتو
يو لوئے کمر لاړو د غرۀ پرېوتو

په دې خبره باندې پوهه نۀ يم
چې زما قام دومره په څۀ پرېوتو

کۀ ددۀ رنګ د زړۀ د وينو نۀ وے
شال به د ناوې په سر نۀ پرېوتو

د خپل نظر رڼا ته نۀ شم کتے
نور مې د روح په آئينه پرېوتو

د ګُل انجام زما په زړۀ کښې پروت دے
ستا د خندا سره مې زړۀ پرېوتو

www.pukhto.net

څهٔ چل خو دے چې په دې تول کلی کښې
تندر زمونږه په کالهٔ پرېوتو

چې د جانان سترګې ئې ولیدلې
شاکرؔ د شُکر په سجده پرېوتو

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

تا رانه غواړې د خپل زړۀ سره زۀ څۀ اوکړمه
لېونے شوے دے ددۀ ســـره زۀ څۀ اوکړمه

پيره بابا ستا د لويي نه انکار نۀ کوومه
خو د ايلم ددې لوئے غرۀ سره زۀ څۀ اوکړمه

کۀ خپې ترې نۀ اوباسم هُم پکښې سم نۀ پتېږم
د خپل شلېدلی څادرۀ سره زۀ څۀ اوکړمه

لکه د چا چې سم د خُدائے په چارو لاس نۀ رسی
د خپل بچی د کړۀ او وړۀ سره زۀ څۀ اوکړمه

خُدايه ددې کُنجی زما پشان سړی له ورکړې
ستا د کعبې د پورې ورۀ سره زۀ څۀ اوکړمه

www.pukhto.net

د زړهٔ دُنیا مې دې مېخونو کلکه اونیوله
د غرونو غرونو وربالهٔ سره زهٔ څهٔ اوکړمه

کهٔ زړهٔ مې نهٔ غواړي خو هُم ورسره مینه کووم
شاکرؔ، شاکرؔ دے د هغهٔ سره زهٔ څهٔ اوکړمه

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

زمونږ د میني د رڼو سترګو رڼا ته خاندی
کهٔ ګُلابونه دي د سرو شونډو خندا ته خاندی

زهٔ په خپل ژوند کښې په چا دومره تېر وتلے نهٔووم
ما خو وئیل چې ګني دغه تصویر ما تـه خاندی

هغهٔ سرِی باندې جنت د محبت واجب شی
چې کوم سړے د دردېدلی زړهٔ دردزا ته خاندی

چې ستا د غوټه جبین خال په څان ستومانه نهٔ شی
د زړهٔ داغونه به مې ټول عمر له تا ته خاندی

شاکرّه څوك هُم د خندا په مانـه نهٔ پوهېږی
کهٔ سړے خاندی نو اخر سړے به چا ته خاندی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# نصیب

د رنجو نصیب په ځائے کښې بدلېږی
کله تور شی کله حسن شی جمال شی

چې په سپینه لمن پرېوځی نو داغ شی
چې د یار په جبین پورې شی نو خال شی

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

○

خوشحالی بل له ورکوی او غم په زړهٔ کښـې ساتی
څومره چې لوئې خلق وی خپل صنم په زړهٔ کښې ساتی

سپرلیه ستا پشان سطحی خویونه نهٔ کړی خزان
سترګې ئې وچې وی خو تا له نم په زړهٔ کښې ساتی

د محبت لېونی دومره زورور خلق دی
چې ښکاره سترې سترې کېږی دم په زړهٔ کښې ساتی

هاغه خبرې ستا د حسن په مجلس کښې کېږی
کومې خبرې چې دا ټول عالم په زړهٔ کښې ساتی

زمونږ د زړهٔ موسم د سترګو په ورشو کښې ښکاری
په ځان مئین خلق مُدام موسم په زړهٔ کښې ساتی

د تنده غرو صحراګانو خیال کښې هُم نهٔ راځی
چې کومه تنده یوه قطره شبنم په زړهٔ کښې ساتی

زما د زړهٔ موسـم شاکرهٔ زما سـترګو کښې وی
دا خلق څنګه د خپل زړهٔ موسـم په زړهٔ کښې ساتی

www.pukhto.net

## بې وسی

څوک چې د جانانه پورې والوځی
لاړ شی د اسمانه پورې والوځی

ډېرې کۀ وزرې د چا لوئې شی
خُدائېګو کۀ د ځانه پورې والوځی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

وخت به په خپل سمی ستا حُسن زوره ور کـــــــــرځوی
خو زما زړۀ لکه هـــوا اوتـــر ګرځـــــــوی

زۀ لـېـونے وومه په ځان باندې هم نۀ پوهېدم
خو ستا خندا په لېونو باندې هم سر ګرځوی

نوَر هم ښائسته دے نوَر پرست پسې چاپېره چورلی
خو څوك ښائسته شته چې په ځان پسې دا نوَر ګرځوی

دا پُښتانۀ به خُدائے یو ځل چرته په کور کړی که نۀ
دا پُښتانۀ به خُدائے ټول عمر در په در ګرځوی؟

ما او جانان چرته پخوا د سترګو جنګ کړے وو
د زړګی باز مې لا تــــر اوسه مات وزر ګرځوی

ما د خوشحال بابا د ژوند نه کنایه ایستلې
چې پس د مرګه پُښتانه سړے په سر ګرځوی

www.pukhto.net

د زوره‌ور غوایه نه څوك لږه پوښتنـــه اوکړئ
چې به ترکومې پورې دا دُنیا په ښکر ګرځوی

د نالیدلی بې امکانه یو طوفان دپاره
شاکرهٓ زرهٔ دې سرے هسې سمندر ګرځوی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

○

ما د ژوند د دواړو سترګو تور ته غاړه کېښوده
ما په محبت کښې هر پېغور ته غاړه کېښوده

مونږه د کمزورو خلقو زور په ځان کښې نهٔ ليدو
مونږ د زورورو خلقو زور ته غاړه کېښوده

دا د کوډو روډو تعويذونو نه خالی نهٔ ده
هاغې جينۍ څنګه هاغه کور ته غاړه کېښوده

اوس د محبت د درد نه ځان راټولول غواړی
اوس پرهر پرهر ځيګر ټکور ته غاړه کېښوده

مونږه د نمرود پشان په ځان باندې مئين نهٔ يو
مونږه د خليلؑ پشان سُور وور ته غاړه کېښوده

www.pukhto.net

چا د خپل مئين فطرت د زړۀ مئيلس وران کړے دے
چا په خاموشئ کښې د زړۀ شور ته غاړه کېښوده

څوک پکښې شاکرؔ د پښتو له قېده وواتۀ
چا پکښې شاکرؔ رتمبور ته غاړه کېښوده

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

چې لېونے د خپل ګرېوان د تماشې نه وځی
ډېر بې نوا بې نوا ستاسو د کوڅې نه وځی

زما به هېر وی ستمګره زۀ به ګرم نۀ يمه
کۀ ناګهانه مې زبېرګے چرته د خُلې نه وځی

مونږه بې وسه يُو خو دومره هُم بې وسه نۀ يو
يو وخت به راشی چې بُتان به د کعبې نه وځی

خدايه دا چا کوډګرو بند په بند تړلے يمه
خُدائے خو دې وکړی چې ارمان مې ددې شپې نه وځی

زما ځوانئ او ستا ښائست يو بل ته هېڅ ونۀ وې
لکه چې سا هُم د پتنګ د ډيوې نه وځی

په تېرېدو باندې به تېر شی بغېر ستا نه اشنا
خو دومره ده د شاکرؔ ژوند به د مزې نه وځی

★★★★★

Pukhto.Net

www.pukhto.net

# خومره او څنګه

ډېر خلق به وائی چې ما څنګه ژوند تېر کړے دے
ما د کبرژن جانان تر څنګه ژوند تړي کړے دے

دا خبره نۀ ده چې چا څومره ژوند تېر کړے دے
زۀ د دې قائل یم چې چا څنګه ژوند تېر کړے دے

www.pukhto.net

○

د لېونتوب نه سېوا هېڅ هم ستا نه ځار نهٔ لری
ستا لېونے په ګرېوانه پورې يو تار نهٔ لری

د نیاره‌ګـــرو پشان هر وخت تاوانی پښتانهٔ
زر او زرګر دواړه لری ولې بازار نهٔ لری

خپلو سرو جذبو تود ژوند ته داسې کېنــولو
لکه ګنجے چې په سر تار او په چا کار نهٔ لری

د محبت د درد خوارهٔ ئ په نصيب کښې نهٔ وی
کوم يو مئين چې رقيب نهٔ لری ربار نهٔ لری

څوک به د داسې کاله خبر د خدايه ښنګک نهٔ غواړی
چې وی ددهٔ په نامه دے پکښې اختيار نهٔ لری

www.pukhto.net

په پېښور کښې پرده دارې ښاپېرۍ وسېږي
د پېښور پشانتې حسن بل يو ښار نهٔ لري

سل رنځوران او يو انار خو ډېره ښه شرح ده
اوس په کروړونو رنځوران هُم يو انار نهٔ لري

دا خلق ولې د بهار په مانه نهٔ پوهېږي
هر څهٔ لري دا ورشوګانې خو بهار نهٔ لري

شکر وباسه چې شاکرهٓ غمخواران دې شته دے
هغوئ ته وګوره چې غم لري غمخوار نهٔ لري

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

چې پښتنو به په سرونو لوپټې سمې کړي
د سپرلی هریو ګُل به هُم خپلې جامې سمې کړي

محبوبې مینې راته ستا د تکبر د قلا
ورانې ناشنا کړې ورېږ لارې کوڅې سمې کړي

چې پښتانهٔ لیکوال به دې ته غاړه ولې نهٔ ږدی
نوې املا خو ردیفونه قافیې سمې کړي

خُدایه چې دا مې بې قدری وه او کهٔ قدر مې وو
زهٔ لا ناست نهٔ وومه جانان راته پښې سمې کړي

زمونږ سرونه به بې ځایه ځائے کښې نه ټیټېږی
کهٔ مونږه خپلې رکوع ګانې او سجدې سمې کړي

هغهٔ کهٔ هر څومره د زور په نیلی سور ګرځېدو
شاکرهٔ خُدائے ورته زمونږه حوصلې سمې کړي

★★★★★

www.pukhto.net

○

ستا په نظر ستا په مسکا ستا په جمال ځوانی ده
زما د فکر په ورشو زما د خیال ځوانی ده

د سوال جامې د سوال پېزار په سر د سوال لوپټه
د یو غریب سړی په لور باندې د سوال ځوانی ده

زمونږ خیالونو له د ګُل رخسار وزرې سبزی
ستا په رخسار باندې تازهٔ تازهٔ د خال ځوانی ده

د ښائستونو سپرلی دلته څهٔ جواز نهٔ لری
په دې وطن کښې د ځوانانو په بدحال ځوانی ده

په مونږ ترې هم لږ د رنګونو باران اووروه
تالـه درکړې خُدائے اشنا د بوډۍ تال ځوانی ده

★★★★★

www.pukhto.net

خدایه انتها دې د رحمت د لوئے دریاب نشته
غم دې په حساب دے د پېرزو دې هېڅ حساب نشته

ژوند د بې امکانه کېفیت د اسرې نوم نهٔ دے
یه د وطن خلقو اوبهٔ ډېرې دی سراب نشته

مینه یوه جذبه ده خو د زړهٔ ده کهٔ د ذهن ده
دا یو داسې سوال دے چې ددې هډو جواب نشته

یار څومره دیدن راوړو ما څومره مینه ورکړله
شکر دے زمونږ په مېنځ کښې دا حساب کتاب نشته

مونږ د ماشومتوب مینه د زړهٔ تېره تناکه کړه
داسې راته ښکاری چې نور ژوند ددې حباب نشته

www.pukhto.net

یا به راته تا پرېږدی او یا به راته لار پرېږدی
بله یوه لاره د رقیب خانه خراب نشته

مونږه په رښتیا وو محبوبه مو دروغژنه وه
هاغه لېونی یو خو نعره د انقلاب نشته

دواړه مې په چل ول د یو بل نه جدا کړی دی
درد نه مې زړهٔ ډک دے خو زړهٔ چاودے اضطراب نشته

اوس د تهذیبونو منډې خپل مفهوم بائیللے دے
اوس د پُښتنې په مخ شاکرهٔ هم حجاب نشته

★★★★★

www.pukhto.net

ډله پره زیاته په هر لور د زوره ورو وی
شور د زورورو وی هُم زور د زوره ورو وی

مونږ ورسره هسې دا د پړی سر نیولے دے
نور کهٔ په رښتیا شی کلے کور د زوره ورو وی

ژوند د ضابطې د دائرې نه وتے چرته شی
لو کهٔ د لوګرو وی خو لور د زوره ورو وی

دا جینۍ به ولې د اسمان په ژۍ قدم نهٔ ږدی
یو چې ښائسته وی بله خور د زوره ورو وی

خُدایه د غریب سړی د پور نه مې ساته ګورے
پور دې وی راپورې خو چې پور د زوره ورو وی

www.pukhto.net

دوۍ په دې جونګړو کښې لړ وخاندی خوشحاله شی
کور ته کۀ ئې ګورې نو دا ګور د زوره ورو وی

زۀ به ډېر کمزورے یم خو خُدائے چې ثۀ راکړی دی
عمر له په دې پسې زړۀ خور د زوره ورو وی

ګل به د لمبو په مېنځ کښې ښنګه مُسکے پاتې شی
مه کوه شاکرۀ مینه وور د زوره ورو وی

★★★★★

www.pukhto.net

○

زړهٔ به مې ولې ستا د حُسن د حصاره وځي
لېونے نهٔ دے چې د دومره ښکلې ښاره وځي

د بُلبلانو د چغار نه اندازه کېدے شي
چې جنازه به د ګُل کله د ګُلزاره وځي

زهٔ د دُنیا روزګار له دومره غاړه نهٔ ورکووم
دا داسې کار دے چې سړے پکښې د کاره وځي

ستا په تندی باندې دا خال ددهٔ د وینو نهٔ دے
ددې سړی نه به ساه ښنګه په قلاره وځي

زهٔ ستا د مینې نه یو خسکے نا امېده نهٔ یم
ما اورېدلي چې په کاڼی زړهٔ کښې لاره وځي

www.pukhto.net

تهٔ به هُم چرته زمونږ کلی ته راپیښه وکړې
ستوری سپوږمی به یوه ورځ د خپل مداره وځی

په شاکرؔ مینه د پښتو نه زورورہ شوله
د نرخ نه هُم د محبت د زړهٔ دپاره وځی

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

# د مينې جبر

ټولې وفاګانې مې قبولې شوې
ټولې ژړاګانې مې قبولې شوې

زړه مې ترې خُدائے صبر کړو ډېر ښهٔ وشو
لاړې دعاګانې مې قبولې شوې

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

○

کله چې خپل ځان راته ښکارهٔ شو ځان
هغه وخت جانان راته ښکارهٔ شو ځان

زهٔ چې ستا په زړهٔ باندې ورېږمه
ښکلیه باران راته ښکارهٔ شو ځان

ما چې د ملا خبرې واورېدې
سم دم مسلمان راته ښکارهٔ شو ځان

مینې د جانان د جبین خال کړمه
ستورے د اسمان راته ښکارهٔ شو ځان

ما چې ستا په سترګو کښې ځان اولیدو
سم د کلی خان راته ښکاره شو ځان

زهٔ به خپل شاګرّ ته داسې وایمه
ستا د مینې توان راته ښکاره شو ځان

★★★★★

Pukhto.Net

یاران په محبت کښېږي د پېغور نه ځان ساتي
نو خاورې به پاځۀ شي چې د وور نه ځان ساتي

د یار د بنګړو شرنګ وي کۀ یاري د نغمه ګرو
په دې باندې سرے د زړۀ د شور نه ځان ساتي

د مینې او د حُسن زور ته غرونه نۀ ټینګیږي
بې زوره زورور به ددې زور نه ځان ساتي

ددې نه به لا نور بې برکته ژوندون څۀ وي
یو رور چې په یو کور کښې د بل رور نه ځان ساتي

د ژوند په هر پړاؤ ناقلاري ددۀ نصیب ده
ددې دور انسان به د کوم لور نه ځان ساتي

دا خلق چې شاکرۀ د یار نوم په ښکاره ناخلي
د دوئ لمنې سپینې دي د تور نه ځان ساتي

★★★★★

www.pukhto.net

# بې حسي

ما له خپلې مينې څۀ خوږمن احساس راکړے دے
غم زما په زړۀ کښې خوشحالېږى زۀ خوشحاله يم

ما د بې حسۍ سبق په زور او زېر وئيلے دے
وور په ټول جهان باندې بلېږى زۀ خوشحاله يم

www.pukhto.net

○

مېوند په وینو سُور دے او ملاله زندګی ده
یاران دې هسې وائی چې خوشحاله زندګی ده

زما دا زندګی د لېونتوب نه عبارت ده
زما دا زندګی بې اعتداله زندګی ده

په دې پورې د زړهٔ ترلو څهٔ جواز کېدے شی
یو څو لمحې څو ورځې یا څو کاله زندګی ده

د ژوند د فلسفې مانه هغې له کتل غواړی
پرته راته یارانو لازواله زندګی ده

باران د پشکال او پسرلی زرغونه نهٔ کړه
د سرو وینو خړوب ته مو لېواله زندګی ده

www.pukhto.net

د نور پښتان حالات به يې د ژوند په خوږو پوې کړی
د پرخې شان په ګُل پرته پرکاله زندګی ده

د سرو ، سپينو، لعلونو نه په ډك وطن کښې اوسو
شاکرهٔ خو زمونږ پکښې بدحاله زندګی ده

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

چې دې وړې دے زما خوب
تۀ به ښکلے وکړې اشنا خوب

ما ځو ځو ځله وئیلے
آئینې ته د خندا خوب

کۀ خوب غواړې نو ودۀ شه
چا لیدلے په هوا خوب

پسرلے به ښکال ښۀ وی
ما لیدلے دے بېګا خوب

زۀ په دې خبره پوئ یم
چې تیاره ده د رڼا خوب

د روڼ خال بلا دې واخلم
شو د ستورو د خندا خوب

Pukhto.Net

www.pukhto.net

څه تهٔ څه زهٔ ودهٔ کېږم
داسې نهٔ راځی رڼا خوب

خُدائے دې هر چا ته نصیب کړی
په مړوند باندې د چا خوب

وې سبا به مشغولېږو
ورله وراغے نن بیا خوب

خدائے دې وکړی چې رښتیا شی
دا دروغ دروغ رښتیا خوب

زهٔ په وېښه باندې وینم
د ګلونو د خندا خوب

ستا شاکرؔ دروغژن نهٔ دے
هغهٔ وینی په رښتیا خوب

★★★★★

www.pukhto.net

یوه خبره پرې اثر نهٔ کوی
د چا چې شوے وی په زړونو سپورے

ازغو په کوم بابا سوالونه کړی
وی ئې په سر د سرو ګلونو سپورے

هر مازیګر د یار په پښو پرېوځی
د بر ګودر د چینارونو سپورے

د زمانې تضاد ته ګوره کنه
تورې جامې د سپینو رنګ اخلی

دوئ په یو شر کښې تاوان نهٔ دے کړے
ځکه په بیعه باندې جنګ اخلی

○

د محبت د تقاضو نه ناخبـــره نۀ دی
خود سره دی خو دا سړی دومره بې سره نۀ دی

پُښتنې جونه د مېوند ملالۍ ښۀ پېژنی
پُښتنې جونه ګورے هسې ځان ته غـره نۀ دی

زما ملګری د اسمان ستورو ته لاس اچوی
زما ملګری په ځان خسکے بې باوره نۀ دی

د مات منګی ټوټې مې راوړې ستا د زړۀ دپاره
د زړۀ ټوټې مې لا راوړې د ګودره نۀ دی

د محبت سندرې هُم په چا اثر نۀ کوی
شاکرۀ پوهه شه دا خلق په خبره نۀ دی

★★★★★

www.pukhto.net

ستا نظر راپورې وور شو
خپل ځیګر راپورې وور شو

سرسری کاتهٔ دې څهٔ وو
سراسر راپورې وور شو

ننګرهار راپورې وور شو
اشنغر راپورې وور شو

ستا په سر مې دې قسم وی
ستا په سر راپورې وور شو

د سپین غر واورو ته وایئ
چې خیبر راپورې وور شو

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

هر ماښام راپورې وور شو
هر سحر راپورې وور شو

محبت دې خُدائے پخبر کړی
مازیګر راپورې وور شو

د کابل جونه خبر کړئ
پېښور راپورې وور شو

در په در یمه پُښتون یم
در په در راپورې وور شو

ستا د سترګو او خالونو
تصور راپورې وور شو

Pukhto.Net
www.pukhto.net

شاعری مې شوه رقیبه
خپل هُنر راپورې وور شو

خپل غوبل راپورې وور شو
خپل اشر راپورې وور شو

د شاګرد خیال وطن یم
لر و بر راپورې وور شو

★★★★★

www.pukhto.net

○

مزه کوی مزه کوی اشنا د زړګی سـر
یو ځل کۀ راته اووائې نن بیا د زړګی سر

ارمانه ما او تا په ژړاګانو زړۀ چــولے
لږ اوخانده چې اوچوی د دُنیا د زړګی سر

جانانه ستا تصویر چې د دُنیا د زړګی سر دے
په دې باندې چاودلے دے د چا د زړګی سر

ستا حُسن او زما شِعر د یو بل متضاد دی
یو ستا د زړګی سر دے بل زما د زړګی سر

ظاهره د هر چا د زړګی سر یم راته خاندی
هېچا راته اونۀ وې په رښتیا د زړګی سر

دا خلق به ئې اوس د محبت سندرې وائی
شاکرؔ ورته وئیلے وو پخوا د زړګی سر

★★★★★

www.pukhto.net

○

بې زړۀ بې زړۀ زمونږ د مینې حوصله ولې ده
چې د وصال ده نو دا شپه دومره اوږده ولې ده

چې محبت ددې دنیا خلقو هېر کړے نۀ دے
نو د مئین سرې په قبر ډیوه مړه ولې ده

ژوند په دنیا پسې راوګرځېدو ورانه ئې کړه
وې ئې زما نه جوړه شوې تماشه ولې ده

چې ستا په سترګو کښې ئې زۀ شنګه لیدلے نۀ یم
یمه حېران چې آئینه دومره رڼده ولې ده

زما د وینې د ډیوې رڼا ته ژوند تېروې
نو ستا په سترګو باندې ما ته دا تیاره ولې ده

تا خو مدام د محبت د ګلو کـر کړے دے
شاکرۀ ستا سره دا دومره تلوسه ولې ده

★★★★★

Pukhto.Net

نیولې به ما هُم په خپل شباب کښې لولکې
پرتې به وې زما په هر کتاب کښې لولکې

ګلونه دې پیدا کړه قیامتونه دې پیدا کړه
اخته دې کړې په بل شانتې عذاب کښې لولکې

زما ئې په احساس غونے لشې لشې کړو
لامبلې وو د حُسن په دریاب کښې لولکې

پېزوان ئې په سرو شونډو داسې ځانګی تهٔ به وائې
چې ناسته ده په مېنځ د سُور ګلاب کښې لولکې

د یار د مخ په ځائے د ګُل په پاڼو کښې لوښږې
شاکرهٔ خطا شوې په حِســـــاب کښې لولکې

★★★★★

www.pukhto.net

○

ما په يو کار کښې د جانان د زړۀ رضا ونۀ کړه
کومه پيرزو ده چې هغه ګڼې په ما ونۀ کړه

د ترقۍ د ناپ کولو پېمانه مينه ده
دا څنګک سپرلے دے چې يو ګل پکښې خندا ونۀ کړه

مسيحا سترګې نن په دې خبره تورې نۀ کړې
چې يو مئين د زړۀ د درد سره وفا ونۀ کړه

د قيامت ورځ زما په خيال په يو پښتون دغه ده
چې خپل بچی ددۀ د سترګو نه حيا ونۀ کړه

زما په مينه کښې کمے دے خو چې څۀ کمے دے
د زړګی زخم مې د نوَر غوندې رڼا ونۀ کړه

www.pukhto.net

اوس به د چا په مخ کښې سترګې غړولے نهٔ شی
چې آئینې دې د نظر سره صلا ونهٔ کړه

کومې خبرې چې د هر یو سړی خلې ته کاته
شاکرهٔ هاغه یوه خبره پکښې چا ونهٔ کړه

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

○

ډُنیا ده خامخا به چا په چا پورې خندل
زۀ څومره بختور ووم تا په ما پورې خندل

خبره کۀ د ظرف شی او د وخت شی منطقی وه
بېګا وورورکی د نمر رڼا پورې خندل

جانان به د سپرلی سره نخرې پېښې کولې
جانان به د ګُلونو په خندا پورې خندل

د مینې لېونی د دار په سر په پوره صدق
په زړۀ کښې د خپل جرم په سزا پورې خندل

رنځورې شانتې مور د بې وسۍ ژړا کوله
رنځور شانتې بچی ورته په خوا پورې خندل

www.pukhto.net

انسان وو خو د خپلې مرتبې نه خبر نۀ وو
دُنیا ته غاړه وتے وو دُنیا پورې خندل

چې زۀ درپورې خاندمه او تۀ راته مُسکے ئې
شاګردۀ څومره خوند کوی په تا پورې خندل

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

○

قسمت زمونږه نشته د رنګونو په موسم کښې
مونږ خدائے یو پېدا کړی د وورونو په موسم کښې

ځوانی د زړۀ د زور د لېونتوب د خوب تعبیر دے
د ژوند نغمې غږېږی د خوبونو په موسم کښې

د ښکته وطن خلقه خبر ددې خبرې غواړې
چې واورې راورېږی په دې غرونو په موسم کښې

پېزوان دې په سرو شونډو باندې هسې نۀ ځنګېږی
ګډېږی لولکۍ د بهارونو په موسم کښې

سپوږمۍ تندر نیولې ستوری مړاوی کېږی
د یار په سپین رخسار د شنو خالونو په موسم کښې

www.pukhto.net

خوشبو خو د ګلونو فطري حسن دے جامه ده
زبېرګي زبېرګي ماحول وي د دردونو په موسم کښې

بادرو او ایساکۍ هسې د شپو ورځو نامې دي
سړے لېونے کېږي د يادونو په موسم کښې

شاکرهٔ ستا د خوښې موسم راغے تهٔ رانغـــلې
خوند نشته د سپرلي د بارانونو په موسم کښې

★★★★★

Pukhto.Net
پښتو

چې دے زما په تنقیدی نظر پوره وختو
ستا د ښائست نه دې په دې خبره ځان ورك شی

چې جانان راشی نو نور ښکلی څۀ پیکه پیکۀ شی
نور چې راوخېژی نو ستوری د اسمان ورك شی

www.pukhto.net

ما له چې خسکے هُم رنړا وی پوتے خوب نهٔ راځی
نو ستا د خال په دې خوره رنړا کښېنې ښنګګ اودهٔ شم

شاکــــره ما چرته په ژوند ناشکری کړې نهٔ ده
نو د ښائسته ښائسته جانان په خوا کښېنې ښنګګ اودهٔ شوم

www.pukhto.net

څوك چې په خپله وی پوره د چا نه څهٔ خبرېږی
زهٔ کهٔ هر څنګه یم هغه زما نه څهٔ خبرېږی

دا خو دې سترګې خُدائے لری چې لږ رښتیا اووائی
ګنی نو څوك د چا د زړهٔ د غلا نه څهٔ خبرېږی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

○

هغه به څهٔ ودهٔ شی د ازغو په بسترو کښېږ
چې عمرله د ګُل په غېږ کښې ناسته سرے وکړی

زهٔ هم غواړم چې زهٔ د کشمالو په تل کښې مړ شوے
خو سپل د کوهِ قاف به څهٔ په ملاسته سرے وکړی

راستې باندې کهٔ ژبه وی کهٔ تُوره کهٔ قلم وی
بیا ټول عمر خفه وی چې ناراسته سرے وکړی

زمونږه نهٔ مکتب شته نهٔ اُستاذ شته خو سرے شی
زمونږ سره چې هسې ناسته پاسته سرے وکړی

شاکرؔ مې پرې ښه بند په بند ترل د زړهٔ ارمان دے
د زلفو نه مې ښکلې نرۍ بیاسته سرے وکړی

★★★★★

Pukhto.Net پښتو

○

د ملاکنډ او امبېلي جنګ دے
دا ګورے هم د نظريې جنګ دے

بې ننګي پرېږده توره ډال را واخله
سر به ترڅو پورې ساتې ، جنګ دے

د لوېتې پېښکے دې کلک ونيسه
پښتنې دا ګورے په دې جنګ دے

کۀ څوک يې منی او کۀ نۀ يې منی
د نظريې او سرمائې جنګ دے

اللّه دې خير کړی نن زما په زړۀ کښې
بيا د ګناه او د توبې جنګ دے

د ملالۍ ابۍ د روح په خاطر
د ننګ تپه شه پښتنې جنګ دے

Pukhto.Net

ما وې زمونږ کره دا شور د څۀ دے
نو يو وړوکی راته وې جنګ دے

د بې حسۍ انتها ده کۀ نۀ ده
په خپل کالۀ د بل د خلې جنګ دے

نور ئې په بند او بينا نۀ پوهېږم
بس دغه سر دے د قيصې جنګ دے

چرته سبر وړۀ به پرې شاګرد واخلو
ځئ چې راتولې کړو توقې جنګ دے

Pukhto.Net